# شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان


### د انرژۍ او اوبو وزير

## افغانستان د برېښنا په برخه کې د هېڅ هېواد پوروړی نه دی

شريعت: ازبکســتان ته له څلور ورځني سفر او هېواد ته له راستنېدو وروســته د انــرژۍ او اوبو وزير وايي، له ازبکستان سره د برېښنا د واردولو تړون تر ۲۰۲۳ کال پورې غځول شوی او افغانستان د برېښنا د واردولو په برخه کې له هېڅ هېواد پوروړی نه دی.

د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزيــر او ورسره مــل پــلاوی ازبکستان ته له خپل رسمي سفر وروسته پرون بېرته کابل ته راستون شو.

د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزير د دغه ســفر په اړه رسنيو ته وويل چې له ازبکستان هېواد سره د برېښنا ســتونزې د هوارولو او د قرارداد غځونه د ياد سفر له اړينو موخو څخه وبلل او څرګنده يې کړه، چې له نيکه مرغه دغه ســفر ښه لاســته راوړنه درلوده او دواړه موخې په بشپړه توګه تر لاسه شوې دي.

ښــاغلي منصور زياته کړه، چې په دې ســفر کې د برېښنا ستونزو د هوارولــو او د قــرارداد غځولو سربېره، د اوبو او انرژۍ په پروژو کې د نړيوالو پانګوالو... ۷مخ


د تأسيس کال ۱۳۷۴ هـ.ش/ دوهم پړاو / (۱۱۶) ګڼه / سه‌شنبه ۱۰ جمادی الثانی ۱۴۴۴ هـ.ق/ ۱۳ جدی ۱۴۰۱ هـ.ش / ۰۳ جنوری ۲۰۲۳ میلادي


## پاکستان افغانستان ته د بندي افغانانو استولو پروسه پيلوي



په کراچۍ کــې د افغانانو په تېره بيا بندي ښــځو او ماشــومانو په اړه د شــکايتونو له زياتېدو وروسته اوس پاکســتاني چارواکــو ويلــي چې افغانســتان ته د دغو ښځو د استولو پروســه پيلوي. د کراچۍ په مرکزي زندان کې د چارواکــو د معلوماتو له‌مخې ۱۲۹ افغان مېرمنې له ۱۷۸ افغان ماشــومانو سره بنديانې دي د کراچۍ د مرکزي زنــدان چارواکو ويلي، ماشومان ځکه په زندان کې دي چې ميندې يې بنديانې شوي. دوی منلــي چې څــه باندې ۲۰۰ افغان ماشــومان چې له يــو تر اتو کلونــو عمرونه لري پــه زندان کې دي. د پاکســتان په سند ايالت کې له څو مياشتو د افغان کډوالو د نيولو عمليات روان دي.

### د نړۍ له هيوادونو د يو شمېر بهر مېشتو افغانانو غوښتنه

## له اسلامي امارت سره د مثبت تعامل لپاره هڅې وکړئ

شريعت: د رياست الوزراء سياسي مرستيال مولوي عبدالکبير تېره ورځ په سپېدار ماڼۍ کې د افغان نړيوال خوځښت له مشر... ۷مخ

### کابلوف

## امارت اسلامی در امر مبارزه با هراس‌افگنی جدی است



نماینــده ویژه رئیــس جمهور روسیه برای افغانستان٬ امارت اســلامی را یک حکومت کارا خوانده اســت و گفته است که این حکومــت در امر مبارزه با هراس افگنی جدی است.

ضمیرکابلــوف در گفتگــو با روزنامه هندو چاپ هندوستان، بیشــتر از هــر مقــام بلندپایه خارجی دیگــر، ارزیابی مثبت از امارت اســلامی افغانســتان و عملکــرد آن ارائــه کــرده است.

او در ایــن مصاحبــه، همچنان گفته اســت که کرملین نگران تلاش‌هــای امریکا برای احیای نفــوذ و قابلیت‌هایــش در افغانستان... ص۷

## له روسيې څخه د ګازو واردولو سره به د هېواد بازارونو کې د نفتي توکو بيې راټيټې شي

وروسته له هغه چې د روسيې د لومړي وزير مرستيال د افغانستان په ګډون د جنوبي اسيا هېوادونو ته د طبيعي ګازو د صادرولو په اړه د خپل هېواد پرېکړه اعــلان کړه، د صنعت او ســوداګرۍ وزارت د روســيې د دغــې پرېکړې هرکلی وکړ او د روســيې دا ګام يې د افغانستان او ســيمې هېوادونو په ګټه وباله.

دسوداګرۍ او پانګونې خونې مسوولين هم له روســيې څخه افغانستان ته د طبيعي ګازو او نفتو صادرات يو مثبت ګام بللی او زياتوي، چې له روســيې څخــه د صادراتو په برخــه کې به د ترانزېټ اســانتياوې رامنځته او هم به زرګونو ځوانانو ته... ۷مخ

### سرمقاله

## مشوره د نظام د بقا لپاره يو مهم اصل دی!

څرنګه چې په دې ورځو کې دا خبره زښــته ډېره اورېدل کېږي چې امارت د چا مشورې ته غوږ نه نيسي اونيو کې نه اوري، نو موږ هم چې شــپه ورځ په هېواد کې د خپواکۍ او اسلامي نظام د پايښت او ټينګښت لپاره فکر و ســوچ کوو او رسنۍ هم دا مسؤليت لري چې د رعيت اواز تر مشرانو مســؤلينو ورسوي، بناء پردې غواړو مشرانو ته د علماؤ، اســتادانو، امامانو او نورو مخورو هغه ســالمې نيوکې، وړانديزونه او مشــورې ورسوو چې منابرو، مدارسو، مجالسو او ان نړيوالو رســنيو کې خپرېږي او ډېری عام وګړي خپلې تبصرې پکې کوي. د مثال پــه ډول خلک وايي بايد يوه ښــه صلاحيت لرونکې شــورا جوړه او سپارښــتنې يې هم په غور واورېدل شــي، خو ياده شــورا کې دې هم ښــه تجربه کار، پاخه او پوهېدونکي اشــخاص شامل وي. مانا داســې امانتدار شــخصيتونه چې هم زړور وي او هم مخلص او پوهېدونکي، نه داســې چې يوازې د مشــرانو سترګو او تندي ته ګوري او ګردې مشــورې يې فقط د غوړه مالۍ پر اساس ولاړې وي. حقيقت هم دادی چې د مســلمانانو په يو جماعت کې د وحدت ســاتلو او له اختلاف او افتراقه يې د ژغورلو پاره د هغوی مشــوروته غوږ نيول انتهايي ډېر ضــروري دي. ځکه په قرآن کريم ســپېڅلي الهی کلام کې هغه چاته هم خپلو ملګرو سره د مشورې کولو حکم شــوی چې هره مهمه چاره کې د جبرائيل عليه الســلام په واســطه وحی ورته راتله. د هماغه ســپېڅلي کلام له لارښوونې معلومېږي چې شــخصي اســتبداد او ملګرو ســره شدت د افتراق لامــل ګرځي او په نظام کې د وحدت د بقا لپاره د ملګرو له خطاؤ تېرېدنه او ورسره مشــوره کول په ټولنه کې يو پر بل باور زياتوي او د پاشــل کېدو مخه يې نيسي. مشــران بايد ومني چې که پر کشرانو اطاعت لازم دی او د بې اطاعتي پر مهال پوښــتل کېږي او ان سزا ورکول کېږي، همدغه شــان مشران هم پر مشــوره کولو ملزم دي. مطلب که اطاعت کول فريضه ده نو مشــوره کول هم يوه بله فريضه او مسؤليت دی. نو په کار ده چې موږ ټول خپل منځ کې دا واقعيت هم ســره ومنو چې موږ يو هم د خيرالقرون د زمانې وګړي نه، بلکې د آخرې زمانې اهل او هر يو له بې شــمېره نيمګړتياو ډک يو. نو ښه بــه داوي چې ډېر لوړ توقعات ونه لرو، د امــت مجموعي اتحطاط په نظر کې ونيســو او د موجوده وضعيت په نسبت اسلامي امارت يوه ســتره بريا او لوی عنيمت وګڼو. البته د هېواد او اســلامی نړۍ ټول ديني علماء او ګرد اســلامپال شخصيتونه ... ۷مخ

## د تاريخي آبداتو د ساتنې په موخه بلخ کې د قوش تيپې کانال مسير بدليږي

د ملي پراختيا شرکت ويلي چې په بلخ کې د تاريخــي آبداتو د خونديتابه په موخه د قوش تيپې کانال مسير بدلوي. په بلخ کې د کانال د پروژې مســوول فريد عظيــم ويلي چې د کلــدار او دولت اباد ولسواليو... ۷مخ

### ماليې وزارت

## د شرکتونو د بررسۍ له درکه يو ميليارد او ۱۳۶ ميليونه افغانۍ ترلاسه شوې




د ماليــې وزارت وايــې چې د دغــه وزارت اړونــد، د تنفيــذ او ماليــاتي اطاعــت پذيــرۍ رياســت د شرکتونو د بررســۍ له درکــه، يو ميليــارده او ۱۳۶ ميليونــه افغانۍ ترلاســه کړې دي.

باختر آژانس ته د دغه وزارت په استول شــوي خبرپاڼه کې ويل شوي چې ياد رياست په تېر يوه کال کې د خپل شفاف مديريت او اســلامي امارت ته په ژمنتيا سره، وکولای شول ... ۷مخ

## ننګرهار کې څه باندې ۹ زره جريبه دولتي ځمکه تثبيت شوه

شريعت: په ننګرهار کې د ځمکو د بېرته راګرځولــو تخنيکي هيئت د ســره رود ولسوالۍ اړوند د فتح آباد او خير آباد سيمو کــې شــاوخوا ۹ زره ۱۸۱ جريبه دولتي ځمکه تثبيت کــړې ده. عدليې وزارت د يوې خبرپاڼې په خپرولو سره ويلي، چې د غصب شــوې ځمکو د بېرته راګرځولو کمېسيون تخنيکي کمېټې دغه ځمکې د سره رود ولســوالۍ په فتح آباد او خير آباد سيمو کې راګرځولې دي... ۷مخ

## ننګرهار کې د څه باندې ۲۱ ميليونو افغانيو په لګښت د يوه سړک د قيراچونې چارې پيل شوې

شريعت: د جلال اباد ښاروالۍ اړوند د لومړۍ ناحيې فوايد عامې رياست مخې ته غځېدلې او ميا اسلم پلازې شاته ســړکونه د جلال اباد ښاروالۍ له لوري ۲ کيلو متر سړک، پياده روو، ويالــې او ګلــدان درلودونکی دی، د قير اچونې چارې پرون د يو قراردادي شرکت «روښانه سهار» له لوري د يو لړ ځانګړو مراسمو په ترځ کې پيل شوې. په دغه تړاو په جوړوشويو... ۷مخ



## افغاني سره مياشت د سوري زړه د ۲۹ ناروغو ماشومانو درملنه کوي

شريعت: پرون د افغاني سرې مياشتې له لوري د سوري زړه په ناروغۍ اخته ۲۹ تنه ماشــومان پلازمېنه کابل کې باسط او ګلوبل روغتون ته د عملياتو او درملنې په موخه ور وپېژندل شول.

د يادونــې وړ ده، چې افغاني ســرې مياشــتې له تېرو ۴ مياشتو راهيسې د ســوري زړه په ناروغۍ اخته ۵۰۸ تنه ناروغ ماشــومان پلازمېنه کابل کې د درملنې په موخه بېلابېلو روغتونونو ته ور وپېژندلي.

د يــادو ناروغو ماشــومانو د ناروغۍ وخامت تــه په کتو په هر نــاروغ له ۷۵۰۰۰ تر ۲۱۰۰۰۰ افغانيو لګښت راځي، چې د افغاني سرې مياشتې له لوري تاديه کېږي.

## استفاده غير موثر از شبکه‌های انترنتی در افغانستان

ص۲

## د اوکـراين اتلان او د افغانستان ترهـګر!!

۵مخ

## پاکستان ولې د افغانانو ځورولو نوې لړۍ پيل کړې؟

۲مخ

## واپس‌گيری بيش از ۲۸ هزار جريب زمين از نزد غاصبان در پکتيکا

شريعــت: مقام‌هــای محلی پکتيکا می‌گويند که بيش از بيست و هشت هــزار جريب زميــن در ولســوالی خيرکوت ولايت پکتيــکا، از چنگ غاصبان واپس گرفت شد.

به گفتۀ مســوولان، بيست و هشت هزار و يکصدو چهارده جريب زمين در منطقۀ کته سنگ ولسوالی خيرکوت پکتيکا که اقوام سيگانی و کته سنگ بــالای آن دعوا داشــتند، اين زمين‌ها توسط هيئت تخنيکی پکتيکا، زمين حکومتی تثبيت و واپس گرفته شد.

## ايران کې د افغان کډوالو د استوګنې موده وغځول شوه


د ايران د کورنيو چــارو وزارت ويلي چې د څــه باندې يو ميليــون افغان کډوالو د اســتوګنې اسناد يې د رواني مرغومي مياشتې تر پايه تمديد کړي او د بيا تمديدو امکان يې هم شــته. د ايران د... ۷مخ



## ۱۵ ميليون دالر به منظور تقويت ارزش پول افغانی ليلام می‌شود

شــريعت: د افغانســتان بانک، برای تقويت بيشتر ارزش پول افغانی در نظر دارد که پانزده ميليون دالر ديگر را امروز سيزده جدی سال‌روان، ليلام کند.

بانک مرکزی ديروز با نشر خبرنامه‌ی، از بانک‌هــا و شــرکت‌های صرافی و خدمات پولی واجد شرايط خواست که در اين داوطلبی، شــرکت نمايند و برندگان ليلام مکلفيــت دارند، تا حسابات شــان را تا ختم روز تصفيه کنند.»... ص۷



## کار بازسازی ۲۱ کيلومتر سرک در بدخشان تکميل گرديد

شريعت: کار بازسازی بيست و يک کيلومتر سرک در بدخشان، پس ازبازسازی، ديروز تکميل گرديد. اين سرک که ولسوالی تګاب را به ولســوالی کشــم وصل می کند، بــه هزينۀ يک ميليون وشش صد هزار افغانی تکميل و به بهره برداری سپرده شد. قاری محمد آصف ظفريار ولسوال کشــم بدخشان، گفت که هزينۀ بازســازی اين سرک، از عوايــد به دســت آمده اين ولســوالی، پرداخــت گرديده است.

## نشستی به منظور بازنگری و انکشاف نصاب تحصيلی پوهنځی زبان و ادبيات برگزار گرديد

شريعت: وزارت تحصيلات عالی، نشســتی را به منظــور بازنگری و انکشاف نصاب تحصيلی پوهنځی زبــان و ادبيــات در نهــاد هــای تحصيلی کشور برگزار کرد.

در اين نشــســت، شــيخ الحديث مولوی ندا محمد نديم سرپرســت وزارت تحصيــلات عالی، در مورد نقش زبان در پيشــرفت و انکشاف علم صحبت کــرد و گفت که علوم دينی و عصری هر دو بهتر اســت و همچنان می توانيم... ص۷




## لوګر کې يوه لرغوني سيمه کشف شوه

د لوګــر د اطلاعاتــو او فرهنګ رياست مســوولين وايي، چې د دغه ولايت د مرکز پُل علم ښــار اړوند سپېڅ سيمه کې يې يوه نوې لرغوني سيمه کشف کړې ده.

د اطلاعاتو او فرهنګ رياســت د فرهنــګ او ګرځندوی د چارو آمر په داســې حال کــې، چې د اطلاعاتــو او فرهنــګ وزارت د لرغون پېژندنې رياست درې تنه انجنيران يې ملتيــا کوله مرکز ته اړوند د ســپېڅ سيمه څخه ليدنه وکړه.

د لوګــر د اطلاعاتــو او فرهنګ رئيس رفيــع الله صميــم باختر آژانس ته وويل، چې دغه لرغونې ســيمه مرکز ته اړوند سپېڅ کلي کوټګۍ کې موقعيت لري...۷مخ

# پاکستان ولې د افغانانو ځورولو نوې لړۍ پیل کړې؟

ابو عمر

اصلاً ټول اهل اسلام یو ملت او کفر بل ملت دی، خو د مسلمانانو د غفلت او د کفارو د پرلپسې شیطاني دسیسو پایله دا شوه، چې نن یو اسلامي امت په لسګونو هېوادونو تقسیم شوی او بیا ټول اسلامي هېوادونه خپلو کې سخت مخالف، خــو کفارو سره کلکه ملګرتیا لري. حــال دا چې الله تعالی ټول مسلمانان ورونه بللي او رسول الله صلي الله علیه وسلم ټول اسلامي امت یو جسد بللی. همداراز؛ کفار مو دښمنان دي او د الهي قول مطابق؛ تر هغه به کفار له مســلمانانو راضي نه شي، تر څو چې د هغوی دین قبول نه کړي. نعوذبالله!

د عامو مسلمانانو تر منځ اوس هم اخوت شته، خو ستونزه په حاکمانو کې ده، ځکه حاکمان یوازې خپلو ګټو ته ګوري، نه د اخوت په غم کې دي او نه پر «ولاء او براء» عقیده لري. ځکه خو ورونه اسلامي هېوادونه یو د بل خلاف داسې کړنې تر سره کوي، چې انسانیت ترې شرمیږي.

له بده مرغه، زموږ ګاونډی هېواد پاکستان هم کله نا کله افغانان له خوږ ګوتې نیسي، زموږ پــر سر له کفارو سره قراردادونه کــوي او مهاجر هېوادوال مو ځوروي. هسې خو له ابتداء څخه د حکومتونو په کچه د پاکستان او افغانستان اړیکې خرابې دي، خو که دقیق تحلیل وشي، له دې ټولو ستونزو سره سره، پاکستان څخه موږ ته ډېر خیر هم رسېدلی. کله چې شوروي ځواکونو پر موږ حمله وکړه، په میلیونونو هېوادوال مو پاکستان ته مهاجر شول او ښه عزت یې راکړ، بیا وروسته څه نا څه ځورونې زیاتې شوې، خو بیا هم زموږ په میلیونونو هېوادوال تر اوسه هلته مېشت دي.

دا سمه ده چې پاکستان دا کار د خدای رضا لپاره نه دی کړی، دې کې هغوی هم خپلې ګټې درلودې، مګر دوه اړخیزې ګټې وې، موږ خپل اهداف درلودل او دوی خپل. که دغه پنا ځای نه وای، موږ ته به د شــوروي یرغلګرو ماتول ډېر سخت شوي وو. همداراز؛ د امریکایي یرغل پر خلاف مبارزه کې بیا موږ پاکستان څخه د پنا ځای په توګه استفاده وکړه، سره له دې چې امریکایانو ته خو د یرغل لاره هم همدې پاکستان ورکړې وه. په هر صورت؛ که بیرته یې پناه نه وای راکړې، نو لا تر اوسه به دلته امریکایان حاکم وو.

تېر شل کاله چې د پاکستان پر خلاف دلته کوم تبلیغات وشول، هغه له دې امله نه وو، چې پاکستان ولې تر اټکه زموږ خاوره قبضه کړې، بلکې د کرزي او غني د رژیمونو یوازنۍ ګیله همدا وه، چې ولې یې طالبانو ته پناه ورکړې؟! همدغو تبلیغاتو څخه افغان ولس هم متأثره شو، حال دا چې دا خو یو مثبت کار دی، چې طالبانو ته یې پناه نه وای ورکړې، دا وطن به مو څنګه له صلیبي یرغلګرو ازادولو؟! د تېر رژیم پر مهال پر ډیورنډ فرضي کرښه اغزن تار ولګول شو، پښتونخوا ته د تګ لپاره پاسپورټونه ورسره ومنل شول او غلامۍ نورې لسګونه معاهدې یې ورسره وکړې، ځکه هغوی له پاکستان سره په دې برخه کې هیڅ دښمني نه درلوده، د هغوی دریځ دا ؤ چې دا هر څه درسره منو، خو طالبان له خپلې خاورې وباسئ.

بیا تر هغه راوروســته؛ کله چې اسلامي امارت قایم شو، پاکستان یو ځل بیا داســې پاروونکي اقدامات پیل کړل، چې د هېواد، سیمې او نړۍ په کچه د بحث وړ وګرځېدل. کله نا کله پر ډیورنډ کرښه له افغان ځواکونو سره نښتې کوي، کله د اغزن تار تېرولو هڅې او کله پاکستان کې مېشت افغان مهاجرین ځوروي. لکه چې اوس یې تازه په سند ایالت کې په سلګونو افغانان زنداني کړي، چې ښځې، سپین ږیري او ماشومان هم پکې شامل دي، بیا د همدغو مظلومو او بې ګناه زندانیانو انځورونه هم پر ټولنیزو رسنیو خپروي.

نو د شــونکو په باور، ښایي د دغو پاروونکو اقداماتو یوه موخه دا وي چې پر اسلامي امارت فشار راوړي او پر ډیورنډ کرښه د اغزن تار تېرولو اجازه تر لاسه کړي. دوهمه موخه به یې دا وي چې اسلامي امارت د تحریک طالبان پاکســتان پر خلاف اقداماتو ته اړ باسي، ځکه په دې وروستیو کې تحریک طالبان پاکستان بریدونه زیات کړي او پاکستاني چارواکي یې وراخطا کړي. همداراز؛ ښایي بله موخه یې دا وي چې د افغان ولس حساسیت راوپاروي، هغوی پر اسلامي امارت نیوکې وکړي، د ولس او امارت تر منځ فاصله ایجاد شي او بیا امارت مجبور شي چې د پاکستان فرمایشونه ورسره ومني.

نو د ډیورنډ فرضي کرښې پر سر معامله کول خو هیڅ امکان نه لري، اسلامي امارت به هیڅکله پاکســتان ته پر پاتې ځایونو د اغزن تار تېرولو اجازه ورنه کړي، ځکه اسلامي امارت وطن پلورونکی نه، بلکې وطن ازادوونکی ځواک دی. همداراز د تحریک طالبان پاکستان پر خلاف د اسلامي امارت کارول هم ځکه نا ممکن دي، چې تحریک د پاکســتان له داخل څخه بریدونه کوي، د پاکستان ادعاوې هیڅ حقیقت نه لري، ځکه اسلامي امارت له ټولې نړۍ سره دا وعده کړې چې افغان خاوره به د هیچا پر ضد نه کارول کیږي او دغه عهد ته ژمن دی. البته که د تحریک طالبان پاکستان پر خلاف له اسلامي امارت څخه فتوای غواړي، نو دا کار هم ځکه ناممکن دی، چې اسلامي امارت په وار وار دا اعلان کړی، چې نه موږ د چا په کورنیو چارو کې لاســوهنه کوو او نه دې نور هېوادونه زموږ په چارو کې لاسوهنه کوي.

نو پاکستان له دغو ځورونو څخه هیڅ هم نه شي تر لاسه کولی، بلکې زیان به یې دا وي، چې د افغانانو نفرت بــه نور هم ورسره زیات شي او د دوی د مظالمو له امله به د تحریک طالبان پاکستان داعیه نوره هم قوي شي.

ځکه خو پاکستان ته لازمه ده، چې پر خپله پالیسي له سره غور وکړي او داسې د عزت او اخوت لاره غوره کړي، چې د ورونو مسلمانو هېوادونو تر منځ ټول نفرتونه له منځه ولاړ شي او یو له بل څخه سالمه استفاده وشي. په ښو اړیکو کې د دواړو هیوادونو ګټه ده، خو په شخړو او لانجو کې د دواړو تاوان دی، ګټه یې یوازې کفارو ته رسیږي. اسلامي امارت هم هڅه کوي چې د تفاهم او ډیپلوماسي له لارې دغه ستونزې حل کړي، افغان سفارت سره پاکستان څو ځله د بندیانو د خلاصون ژمنې کړې، خو لا یې نه دي عملي کړې. خو څرنګه چې اسلامي امارت په ابتدائي حالت کې دی، هېواد مو تازه له جګړو راوتلی او اوس ایله پرمختګ ته اماده شوی یو، نو په هیڅ صورت باید هیچا سره په نویو شخړو کې ښکېل نه شو. ټولې ستونزې باید د تفاهم له لارې حل کړو او له صبر څخه کار واخلو. افغانان باید پاکستان ته له غیر رسمي سفر څخه په کلکه ډډه وکړي، تر څو له دغسې ستونزو سره مخ نه شو، کوم هېوادوال چې هلته میشت دي، هغوی دې هم د راتلو هڅه وکړي، ځکه یوازې په خپل وطن کې د افغانانو عزت خوندي دی. په خپل وطن کې پر ستونزو صبر کول تر دې غوره دی، چې د سند په زندانونو کې بندیان شو.

# استفاده غیر موثر از شبکه‌های انترنتی در افغانستان

اسفندیار

جهان در دو دهه گذشــته شــاهد تغییرات چشم‌گیری بــود و این دیگرگونی‌ها در ســطوح مختلف از جمله سیاســت، اقتصاد، فرهنگ و اجتــماع تحولات عظیم را به میان آورد. این همه در ســایه جهانی شدن انترنت و شــبکه‌های اجتماعی رقم خورد و باعث شد امروزه جهــان تبدیل به دهکده کوچکی شــود کــه همه مردم را به دور هــم جمع کند و انســان‌ها از سراسر جهان در تمام بخش‌های زندگــی اجتماعی با هم در تعامل باشــند. انترنت کمک بزرگی بــه تجارت‌های جهانی کرده و سهولت‌های قابل وصف را برای تاجران جهان جهت معرفی کالاهای شان به میان آورد.

نقش انترنت و مشــخص‌تر نقش رسانه‌های اجتماعی در حوزه فرهنگ هم خیلی پر رنگ اســت. در کمترین زمان خرده فرهنگ‌های بومی به سراسر جهان گسترش یافت و تکثیر شــد و بســا فرهنگ های سنتی دیگر را در ســایه قــرار داد و یا اصــلاح کرد و یا هــم از بین رفتند. به کلام دیگر امروزه بیشــتر از کشورهای جهان به سوی یک‌نواختی و تا حدودی می‌شود گفت که در جهت تک فرهنگی روان اند.

در بخش آموزش و پرورش نیز آموزش‌های کلاسیک دارد جایش را به شــیوه‌های نوین با استفاده از انترنت خالی می‌کنــد و پس از اپندمی کویــد_۱۹ انترنت و فضای مجــازی جایگاهــش را ثابت کــرد و در چند ســال پســین اغلب پوهنتون‌ها و مکاتــب درس‌های عدم حضوری برگــزار می‌کردند، نه تنها کشــورهای عقب مانده که فاقد زیرســاخت‌های در این خصوص بودند، بیشــتر کشــورهای توســعه یافته و یا در حال توسعه نیز از وضعیت آموزش از راه دور راضی اند و دانــش آموزان را هنوز هم از این طریق فارغ می‌دهند. بیشــتر پوهنتون‌هــا در کشــورهای منطقه چــون هند و جمهــوری خلق چین هنــوز هم از ایــن میتود کار می‌گیرند و دانشــجویان بیرون مرزی را به گونه انلاین تدریس می‌کنند.

همانگونــه که در آغاز گفته شــد انترنــت جهان را به دهکــده کوچک تبدیل کرده اســت جایــگاه ویژه در تأمیــن ارتباطــات دارد. از آنجایی که همــه میدانند، دنیای امــروز، دنیای ارتباطات اســت انترنت بیشــتر از همه فضــای ارتباطات را تقویت کــرد، تا یک دهه پیش کانــال های ارتباطی خیلی محــدود و زمان گیر بــود. اکنــون در ظرف ثانیه‌ها می‌شــود بــه دور ترین نقطه جهان وصل شــد و ارتباط برقرار کرد و کســب معلومات نمود.

روی هــم رفتــه همه پیشرفت‌هــا کــه در عرصهٔ های مختلف دیده می شــود رد پای انترنت را می‌توان آنجا یافــت. در این قــرن نبض بیشــتر فعالیت‌های جامعه انسان در حیطه انترنت اســت. حکومت داری خوب با اســتفاده از انترنت و داده هــای انترنتی امکان پذیر است.

در کنــار این همــه، انترنت و اســتفاده نادرســت از آن می‌توانــد عواقــب ویرانگر را هم به همراه داشــته



باشــد. در گام نخســت گســتردگی و نفوذ ابزارها و شــبکه‌های انترنتی در لایه‌های مختلف جامعه ماهیت اســتخباراتی دارد و کشــورهای منبع، اغلب از طریق آن در پی اهداف سیاســی و استخباراتی شان اند. به همین خاطر در برخی کشــورها اســتفاده از ابزارهای انترنتی که منشأ غربی یا امریکایی دارد مسدود است. بــه گونه مثــال در جمهــوری خلق چین شــبکه‌های مجازی چون فیسبوک، تویتر، جمیل، یوتیوب، تلگرام و... همچنان بعضی از مرورگرها مســدود است و در عوض آن از ابزار دیگر به اسم وی‌چت( WeChat) که ساخت خود آن کشور اســت استفاده می‌کنند و تمام امورات اجتماعی از خرید تا فروش، کوچک و بزرگ و حتی در بس‌های شهری نیز از آن استفاده می‌شود و در بخش امنیتی نیز از (ویچت) کمک می‌گیرد. بناً در صورت داشتن بدیل شــبکه‌های جهانی، و جایگزین شــبکه‌های محلــی ایــن نگرانی را می‌شــود بر طرف کــرد، اما در فقدان شــبکه‌های اجتماعی محلی، قطع مسدود سازی شبکه‌های انترنتی چالش‌های زیادی را به کشورها به بار خواهد آورد.

اعتیــاد بــه شــبکه هــای اجتماعــی از دیگــر اضرار شــبکه‌های اجتماعی اســت. ابتدایی ترین مشــکل در ایــن زمینه وابســتگی مردم مشــخصا قشر جوانان به شــبکه‌های انترنتی اســت که اســتفاده بی رویه از آن روند روبه رشــد را از جوانان می‌گیرد و در بیشتر اوقات مشکلات جسمی و روحی را به همراه دارد. از طرف دیگر در نزد افراد اســتفاده کننده، کم تحرکی را به بار می‌آورد.

در نتیجــه باید گفت که انترنت در بیشــتر امور با آنکه خیلی موثر و مفید است، اما در بعضی از کشور های کمتر توســعه یافته مثل افغانســتان مشکلاتی را نیز به همراه دارد. چون جنگ چهار دهه در این کشــور در کنار آن که همه زیر ســاخت‌ها را ویران کرد و کشور را از قافله ترقی و توســعه دور نگهداشت و نگذاشت فراینــد تکامل را طی کند، بالای علم، فرهنگ و روان انســان‌ها اثرات جبران نا پذیر را گذاشــت. از این رو فرهنگ اســتفاده از انترنت و ابزارهای های انترنتی در این کشــور متاثر از کم آگاهی و کم ســوادی جامعه است.

با بیشتر شــدن خدمات انترنتی در یک دهه گذشته در افغانســتان، افراد زیادی بی آنکه از فرهنگ اســتفادهٔ آن معلومات داشــته باشند، از شــبکه های اجتماعی از جمله فیسبوک اســتفاده می کنند چون دسترسی به این شــبکه ها بدون قیدوشرط و آزاد گذاشــته شده و این ســبب شده تا افراد به نام های مختلف از فیسبوک استفاده کنند.

طیف وســیعی از این اشخاص خواســته و ناخواسته به شــخصیت افراد، ادارات، نهادها می تازند و هتک حرمت می کنند که به این شــکل به آنان و شخصیت شــان لطمه وارد کرده، از آنها به بدی یاد می کنند.

در ســوی دیگر کشــمکش های قومی، زبانی، لسانی و مذهبی چیزی دیگری اســت که شماری از استفاده کننده گان رسانه‌های اجتماعی به ویژه فیسبوک به آن از اسم‌های مستعار و یا حقیقی دامن می‌زنند. استفاده از عکس و نام افراد دیگر، چیزی دیگری است که در شــبکه های اجتماعی بســیار عادی شده و می‌توان از آدرس دیگران به هر شخص و نهاد توهین کرد.

بــا این حــال آنچه تــا حال گفته شــد مشــت نمونه خروار از محاســن و معایب انترنت و شــبکه انترنتی بــود. مزیت انترنت می‌تواند بیشــتر از این‌ها باشــد و همینطــور معایــب آن، اما آنچه در افغانســتان کنونی که پس از چهل ســال تجربه جنــگ و ویرانی اندکی قد راســت کرده مهم است که اســتفاده قاعده مند در چهارچوب یک مکانیزم تعریف شــده از شــبکه‌های اجتماعی صورت گیرد و جلوی بی‌بند وباری و نفرت پراکنی از این طریق باید گرفته شود. همینطود استفاده بی رویه و غیر نظامند می‌تواند مشــکلات اجتماعی را به بار آورد که نقش ویرانگر را به دنبال خواهد داشت.

به هر حال، در کنار استفاده از فیسبوک و سایر شبکه های اجتماعی، دانستن فرهنگ و اخلاق استفاده از آن را نباید فراموش کرد.

# غــرب ځپلــی ځــوان!

عین الله عابد

یوو ېشــتمه پېړۍ د داسې پر مختللو تکنالوژۍ او پالیسۍ سره مله شوه کوم چه غرب د مسلمان ځوان د بې دینۍ او بې لارۍ لپاره خپلې ټولې هڅې او پلانونه پلي او بریالي کړل

د نني ځوان فکر، شکل او قواره، ناسته ولاړه، اخلاق او خویونه د لویدیځ والو له کلتور او فرهنګ څخه زبږېدلی بریښــي او د هغــوی په کفري او غربي کلتور/ فرهنګ په پلونو روان دی. او دا ټولې ناخوالې د اشــغالګرو د شــل کلن فکري او عقیدوي یرغل نتیجه او حاصلات دي، چې باید دا ملت یې پرې کړي؛ ځکه هغوی دلته داســې تخمونه کرلي چه زرغونېدل به یې د اسلامي ټولنې زامنو ته د ارتداد او ګمراهۍ ستر لامل واوسي. موږ ګورو چه د نني ځوان د اســلامي ټولنــې له کلتورونو او شرعي احکامو څخه زړه تور او ور څخه په تېښته دی، زمونږ همــدا ځوان نن په لوی لاس خپل ځان هلاکت ته غورزوي؛ خــو بیاهم دومره فکري ناجوړ دی، چې ځان په ســمه او نور ټول ملت په ناسمو لارو روان بولي.

غفلت او نفس پالل یې اوج ته رسیدلي

د الله له اوامر او نواهیو څخه بــې زاره د دنیا په خوندونو کې ډوب او خپل اصلــي موخو څخه لرې په بــې ځایه او نا وړه کړنو بوخــت دی فکر یې له رب جل جلا لــه پرته، د دنیا په فاني ژوند، د نفســي او شیطاني خواهشاتو پوره کول او د پردو ناموســونو پیمالولو ســره تړلی، په مجازي عشــق کې ګیر او لېونی وي، ځکه خو وینو چې ګرده ورځ په نا مشــروع او بې ګټې سوچونو کې ډوب او ګنګس پروت وي.

د دنیا له بدو ســره یې دومره ممارست(تړاو)زیات شوی وي، چې آن مور، پلار یې هېر او نږدې اړیکې یې پرې کړي او له کوره تر بهر هېوادو یې ځان ورساوه.

نن هلته د انټرنټ له اســانتیاوو برخمــن او د همدې له لارې خپلې نفسي غوښتنې پوره او ناوړه اعمال ترسره کوي کوم چه زیان به یې د وخت په تېرېدو سره تر رواني ناروغیو او په نشیي توکو روږدتیا پورې و رسېږي.

نــن په پردي هېواد کې خپله انرژي د نفس لپاره په ازادانه ډول مصرفــوي او خپل راتلونکی په یوه دقیقــه خوند باندې خرابه وي.

دا هرڅه مو د تېر شــل کلن اشــغال په پایلــه او د هغوی له کامیاب فکري استعمار څخه و لیدل، موږ وینو چې د هغوی کرل شوی تخم زموږ په ځمکه کې زرغون او مخ پر ودې دی. که دې فکري یرغل مقابله ونشي او په اصطلاح دا تخم ټول نه شي؛ نو لرې نه ده چې راتلونکی نسل به مو سل سلنه ٪۱۰۰د لویدیځي کلتورونو او د هغوی فاسدو عقیدو پیروان واوسي.

نــن د دې وخت دی، چې زمونږ علماء د دغــو ځوانانو د بیا اصلاح او تربیــې لپاره په خپل پوره تــوان هلې ځلې وکړي؛ ترڅو زمونږ له لاس وتلی د فکري استعمار ښکار شوی ځوان د تیارو له تورتمونو د رڼاوو روڼ سهار ته ور داخل کړو.

بعون الله



# د ښځـو نـوي مسئلـې

**لیکوال: مفتي صادق شاه(فاضل دارالعلوم کراچی) / ژباړن: ساجدالله / شلمه برخه**

### د سرو او سپینو زرو په تارو د غاښونو سمول

که چېرې د کوم شخص د بدن ظاهري جوړښت په داسې ډول وي چې په ښکاره بد او عیبجن برېښي، نو په شریعت کې دا شونې ده چې هغه لرې او د خپل بدن جوړښت د نورو خلکو په څېر کړي. په ابوداؤد کې راغلي: حضرت عبدالرحمن بن طرفه د خپل نیکه حضرت عرفجه بن اسعد رضی الله عنه واقعه بیان کړې، چې د هغه د نیکه پوزه د جاهلیت پر مهال د (یوم کلاب) جګړه کې غوڅه شوې وه، نو هغه د سپینو زرو پوزه جوړه کړې وه؛ خو د لوندوالي له امله بدبویه شوې وه. نبي علیه السلام هغه ته د سرو زرو د پوزې جوړولو حکم وکړ، چې هغه هم جوړه کړه. «۱» د دې حدیث شریف پر بنسټ فقهاؤ کرامو د سرو زرو پوزې لګولو، غاښونو ته د سرو زرو پوښ ورکولو او په سرو او سپینو زرو د غاښونو ډکولو اجازت ورکړی دی. «۲»

۱ ــ سنن ابی داؤد (۲۳/۲)، کتاب اللباس، باب ما جاء فی ربط الأسنان بالذهب.

۲ ــ فتاوی بینات، کتا بالحظر والاباحة (۳۵۵/۴)

### د میاشتنۍ ناروغۍ په حالت کې د قرآن کریم ترجمه مطالعه کول

له پوښه پرته د ناپاکۍ په حالت کې په قرآن کریم لاس لګول، جائز نه دي. په کومو کتابونو کې چې نور مضامین او د قرآن کریم ایاتونه یوځای راغلي وي، نو د قرآن کریم د ایاتونو په عربي عباراتو لاس لګول، درست نه دي. خو له دې ځان ساتل په کار دی، داسې رسالې یا کتاب په لاس کې اخیستل، د قرآني آیاتونو ځای پرېښودل او په نورو ځایونو لاس اېښودل او مسح جائز او څه بدي پکې نشته. «۱» د زیاتره فقهاؤ کرامو په آند، د قرآن کریم ترجمه (ژباړه) هو بهو قرآن کریم نه دی. «۲» له دې امله یوازې د قران کریم د ژباړې برخه مسح کولو او لاس لګولو، امکان شته. خدای مه کړه، که چا په ناپامۍ په دې حالت کې په قرآن کریم لاس ولګاو، په دې کفاره نه واجبیږي، یوازې استغفار به کوي، (توبه به باسي). «۳»

۱ ــ طحاوي علی مراقي الفلاح، باب الحیض والنفاس والاستحاضة (۱۴۳/۱)

۲ ــ أیضا (۱۴۴)

۳ ــ کتاب الفتاوی طهارت کی احکام (۱۰۳/۲)

### نکریزې لګول او لمونځ کول

د ښځینه وو لپاره لاس سره کول روا، بلکې غوره دي. له حضرت عایشې رضی الله عنها روایت دی، چې حضرت هنده بنت عتبه رضی الله عنها له نبي علیه السلام څخه د بیعت غوښتنه وکړه، نو هغه ورته وویل: څو ورغوي (لاسونه) بدل نه کړي (نکریزې پرې و نه لګوې)، بیعت نه درسره کوم. «۱» همداراز په یو بل روایت کې راځي: یوې ښځې د پردې تر شا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو لیک ورکړ. هغه لیک ترې واخیست او ویې پوښتل، چې دا د سړي لاس دی، که د ښځې؟ هغې وویل: د ښځې. رسول الله ورته وویل: که چېرې ته ښځینه وای، نو د نوکانو رنګ به دې په نکریزو بدل کړی و. «۱»

او دا خبره روښانه ده چې د لمانځه پر مهال د نکریزو رنګ نه لرې کوي. نو جوته شوه چې له نکریزو سره لمونځ کول روا دی. «۲»

۱ ــ سنن أبي داؤد، باب فی الخضاب للنساء (۵۷۴/۲)

۲ ــ کتاب الفتاوی، نماز سی متعلق سوالات (۲۴۸/۲)

### د دویزې تورې څادري (برقعې) په سرول

څرګنده دې وي چې ښځه د پټولو او پوښلو څیز دی. د دې په اړه په شریعت کې حکم دی چې هغه دې په خپل کور کې اوسیږي او تر خپلو څلورو دېوالو پورې دې محدوده وي، څنګه چې الله جل جلاله وایي: «۱» ژباړه: او تاسو په خپلو کورونو کې ارامې اوسېږئ او د پخواني جهالت مهال په څېر مه وځئ.

په دې آیت کې ښځو ته په کور کې د اوسېدو حکم ورکول، هدف دی. البته د شرعي یا طبعي اړتیا موافق ښځه له کوره بهر د کوم غټ ټیکري (پړونی) د هغه د عوض (څادري) سره خپل ټول بدن پټ کړي، له پوره پردې کولو سره د بهر تللو اجازه شته، چې بیخي یې کوم غړی څرګند نشي.

د بدن پټولو لپاره شریعت کومه ځانګړې طریقه یا رخت، یا د څادري بېلګه نه ده ټاکلې. نو هغه پړونی یا څادري، چې ښځینه یې اغوندي، په هغه کې لاندې څیزونو ته پاملرنه اړینه ده:

۱ ــ دا څادري یا پړونی داسې نه وي چې له هغه څخه دننې غړي ښکارېږي او د بدن جوړښت ترې څرګندیږي. داسې څادري ته څادري وېل بیا مناسب نه دي، بلکې دا څادري خلکو ته د لا زیاتې بدۍ بلنه ورکوي، چې اغوستل او د باندې وتل پکې، ناجائز دي. «۲»

۲ ــ د اړتیا له مخې چې ښځینه بهر وځي، باید د دې خبرې خیال هم وساتي چې کومه څادري یا پړونی په سروي، هغه دې دومره ښکلی او زړه راښکونکی نه وي، چې خلکو سترګې وراړولې وي او د کتلو/خوښولو موقع په لاس ورشي. بلکې عامه دودیزه څادري یا پړونی دې په سر او په بشپړ ډول دې له ښکلا او ښایسته ډډه وکړي. «۳»

له پورته تفیصل نه جوته شوه چې په دودیزې څادري په سرولو کې کوم شرعي قباحت نشته. له څادري یا پړوني اغوستلو څخه هدف پرده کول او له پردیو سړیو څخه د خپل ځان پټول مقصد دي. په دې کې د کوم ځانګړي رنګ یا خاص پړوني او څادري په سرول اړین نه دي. پړونی/ څادري شنه وي او که کوم بل رنګ، خو د دې خبرې ته پاملرنه اړینه ده چې دومره تنګه نه وي، څو د بدن د غړیو جوړښت ترې ښکاریږي. «۴»

۱ ــ د احزاب سورت (۳۳) آیت.

۲ ــ صحیح مسلم (۲۰۵/۲)

۳ ــ جامع الترمذي، ابوب الاستئذان، باب ما جاء فی کراهیة خروج المرأة متعطة (۱۰۶/۲)

۴ ــ ملحض من فتاوی کتاب الحظر والاباحة (۴۵۸/۴)

# استرداد زمین‌های غصب شده؛ اقدام قابل ستایش!

**ابوالیاس جهادوال**

امارت اسلامی افغانستان در این اواخر بر مبنای فرمان ۲۱ ماده‌یی مقام رهبری امارت اسلامی، کمیسیون ویژه‌یی را به‌منظور جلوگیری از غصب زمین و استرداد دوباره آن از غاصبان ایجاد نمود تا قضایای زمین‌های شخصی و اماراتی را ازطریق محکمه ویژه بررسی نموده و در پرتو قوانین نافذه کشور روی آن تصمیم بگیرد.

این کمیسیون که تحت ریاست محترم شیخ‌الحدیث مولوی عبدالحکیم شرعی سرپرست وزارت عدلیه تشکیل شده است سرپرست وزارت کار و امور اجتماعی، سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن، معین وزارت زراعت، نماینده لوی ثارنوالی، رئیس عمومی اداره امور و رئیس دارالانشای ستره محکمه نیز در آن عضویت دارند که در نتیجه فعالیت آن تا اکنون به شمول کابل در برخی از ولایات کشور هزاران جریب زمین شخصی و امارتی از تصرف غاصبان خارج و به مالکان اصلی شان مسترد شده است.

کمیسیون جلوگیری از غصب زمین و استرداد دوباره آن در حالی به فعالیت خود آغاز می‌کند که قرار اطلاعات برخی منابع رسمی نظام قبلی، طی چهار دهه جنگ به‌خصوص پس از تجاوز اشغالگران صلیبی بر افغانستان، حدود چهارونیم میلیون جریب زمین شخصی و امارتی از سوی زورمندان و مسوولان نظام جمهوریت غصب شده است.

با وجودی‌که در نظام قبلی نیز ادارات و نهادهای مختلفی به‌منظور جلوگیری از غصب زمین و استرداد دوباره آن تشکیل شد، اما بنابر عدم موجودیت اراده قاطع، مشارکت مسوولان عالی رتبه در قضایای غصب زمین و فساد گسترده در نهادهای عدلی و قضایی و تنفیذ قانون نه تنها جلو غصب زمین گرفته نشد، بلکه با گذشت روز این مشکل گسترده‌تر و زیانبارتر می‌شد.

بر اساس معلومات یک گزارش تحقیقی کلید گروپ، کمیسیون جلوگیری و استرداد غصب زمین اداره کابل، در سال ۱۳۹۱ هـ ش مساحت زمین‌های غصب شده در ۳۰ ولایت کشور را ۱.۲ میلیون جریب و شمار غاصبان آن را نیز ۱۵ هزار تن تثبیت کرده بود. اما بعداً اداره عمومی اراضی طی یک بررسی مساحت زمین‌های غصب شده را ۱.۵ میلیون جریب و شمار غاصبان آن را ۱۹ هزار تن تثبیت نمود.

در همان زمان مسوولان اداره اراضی مدعی شدند که علی‌رغم تلاش‌های حکومت برای بازپس گیری زمین‌های غصب شده، زورمندان همچنان به غصب املاک شخصی و دولتی ادامه می‌دهند و نهادهای مربوطه نتوانسته اند که از غصب بیشتر زمین جلوگیری نمایند.

از جانب دیگر، اداره مبارزه با ارتشاء و فساد اداری در سال ۱۳۹۴ هـ ش رقم املاک غصب شده طی یک و نیم دهه زمان جمهوریت را حدود دو میلیون جریب زمین تخمین کرد. قرار معلومات این اداره، طی سال‌های ۱۳۹۳ ـ ۱۳۹۴ هـ ش به مساحت ۴۰۰ جریب زمین غصب شده را تثبیت و دوسیه‌های غاصبان را پس از ترتیب به لوی ثارنوالی فرستادند، اما ارگان‌های مربوطه در بررسی این دوسیه‌ها اجرااتی نداشته اند.

برعلاوه، نهاد موسوم به « خانه آزادی» در سال ۱۳۹۴ هـ ش تحقیق صد صفحه‌یی را تحت عنوان « فصل سیاه غصب زمین» به نشر سپرد که بر مبنای اسناد معتبر دوایری چون لوی ثارنوالی، اداره عالی اراضی، پارلمان، شاروالی و وزارت شهرسازی مساحت زمین‌های غصب شده را حدود چهارونیم میلیون جریب ذکر کرده بود.

با وجودی‌که در این گزارش نام غاصبان زمین افشا نشده بود ولی شاه حسین مرتضوی از اعضای این نهاد از حمایت مسوولان حکومتی از غاصبان پرده برداشته و گفته بود که در لیست ۱۵۸۳۱ نفری غاصبان سران اقوام، زورمندان محلی، فرماندان‌های جهادی، رهبران احزاب سیاسی، سرمایه‌داران، شاروال‌ها، نمایندگان و سناتوران، اعضای کابینه نیز شامل می‌باشند.

این گزارش نشان می‌دهد که بیشترین زمین در چهارده گذشته در زمان حاکمیت حامد کرزی غصب شده است که بیشتر آن در کابل و سپس به ترتیب،در ولایات هرات، بلخ، قندهار، ننگرهار، کندز، کاپیسا، بغلان، تخار، نیمروز، خوست، لوگر و غزنی موقعیت دارد.

براساس این گزارش ولایات نورستان، پکتیکا، پنجشیر، دایکندی و غور به دلیل نبود زمین، کمترین زمین غصب شده را دارند. مسوولان خانه آزادی گفتند با وجودی‌که حکومت معلومات کافی در مورد غاصبان زمین داشته اند، اما اقدامی برای پیگرد عاملان غصب زمین صورت نگرفته است.

گزارش نگاشته است که غاصبان زمین بیش از ۲۷۰ هزار جریب زمین را به‌منظور ساخت شهرک‌ها غصب کرده‌اند و از جمله بیش از ۱۰۰ باب شهرک ساخته شده در شهر کابل فقط ۱۸ باب آن به‌گونه قانونی اعمار شده است.

یافته‌های این تحقیق نشان می‌دهد که بیش از دو هزار جریب زمین پارک‌های صنعتی، بیش از ۱۰ هزار جریب زمین شهرک‌های معلمین، ده‌ها هزار جریب زمین شهرک‌های مهاجرین و هزاران جریب زمین مربوط به مساجد، معارف، کودکستان‌ها و سینماها نیز از سوی زورمندان غصب شده است.

گزارش تحقیقی نبود قانون مشخص در مورد پیگرد عدلی و قضایی غاصبان و ناتوانی نهادهای عدلی و قضایی در تعقیب و مجازات غاصبان را از عوامل عمده غصب زمین در حاکمیت نظام جمهوری عنوان می‌کند.

در این گزارش آمده است که در سال‌های اخیر بیش از ۹۰ درصد زمین‌های اهل هنود نیز غصب شد و این اقلیت مذهبی توان استرداد این زمین‌ها را نداشته اند.

با وجودی‌که محمد اشرف غنی طی نشست بنام « در چهارمین نشست ملی شهری» در سال ۱۳۹۶ هـ ش از مبارزه جدی خود با غاصبان زمین و استرداد دوباره املاک غصب شده یاد آور شد و علاوه نمود که به همه والیان دستور داده است تا مانع غاصب زمین شود و زمین‌های غصب شده را از نزد آنان دوباره مسترد کند.اما مشاور امور شهرسازی حکومت وی « یوسف پشتون» ضمن اظهارات خود در مورد سرنوشت شهرک « کابل جدید» گفت که بیش از ۴۰ درصد اراضی این شهرک از سوی غاصبان غصب شده و آنان از استرداد دوباره آن در وضعیت کنونی عاجز اند.

طوری‌که در فوق تذکر یافت، فراقانونی، نبود اراده قاطع در راستای مبارزه با غاصبان، دخیل بودن مقامات عالی رتبه در قضایای فساد، ناکارایی نهادهای عدلی و قضایی در تطبیق قانون و فساد گسترده در این نهادها از عوامل عمده غصب زمین در نظام های قبلی بوده که با حاکمیت دوباره امارت اسلامی تمامی عوامل فوق از میان برداشته شد، بناءً با فعالیت کمیسیون جلوگیری از غصب زمین امیدواری‌های را در مورد استرداد دوباره املاک غصب شده به وجود آورده است.

# سوراخهای قلب قومی!

**دوکتور اسحاق جواد**

من کودکانی را از هر قوم با سوراخ قلب دیده‌ام، کودک پشتون با سوراخ قلب، کودک هزاره با سوراخ قلب، کودک اوزبیک با سوراخ قلب، کودک تاجیک با سوراخ قلب و حتا کودک هندو با سوراخ قلب.

مادران همه این کودکان مانند هم به خاطر نداشتن امکانات تداوی گریه می‌کردند، گاهی آدم حیران می‌ماند که چقدر آنها مشابه هم هستند. وقتی برای نخستین بار برای پدر شان می‌گفتی که کودک تو سوراخ قلب دارد و باید عملیات شود، همانگونه که رنگ از رخ یک پدر تاجیک می پرید و جا به جا روی چوکی می‌نشست مثل همان حرکتی بود که یک پدر پشتون انجام می‌داد. چقدر جملات آنها با هم مشابه بود، همه مثل هم از تو می‌پرسیدند: داکتر صاحب،عملیات چند مصرف دارد؟ ما پول همین معاینات را هم قرض گرفته‌ایم.

حتا باور نکردنی بود، وقتی می‌شنیدی که جملات این کودکان چقدر مشابه هم است؟ کودک پشتون از پدرش می‌پرسید: پلاره سه خبره ده؟ بچه تاجیک می‌پرسید: پدرجان چه گپ شده؟ و حتا پسرک هزاره با آن دست های کوچکش اشک های پدرش را پاک می‌کرد و می پرسید چرا گریه مونی بابه؟

هرقدر شما به تفاوت ها فکر می‌کنید من در این سرزمین مشابهت ها را دیده‌ام. من دیده‌ام که یک مادرک تاجیک وقتی غذای چاشت کودکانش کم‌تر از حدمعمول است دو لقمه بر می‌دارد و خود را مصروف می سازد تا کودکانش سیر شوند و چنان وانمود می‌کند که همه فکر کنند او نیز غذا می‌خورد. من مادرک پشتونی را می‌شناسم که برای یک فامیل بزرگ تمام روز نان خانگی پخته است تا با دست مزد خود غذای فرزندانش و کرایه خانه شانرا تکافو کند. من یک مادرک اوزبیکی را دیده‌ام که دوای فشارش را یک شب در میان استفاده کرده است تا پولی برای مکتب نواسه اش ذخیره شود.

شما هرگز متوجه نیستید که حتا دختران قوم خود شما هر روز رنج می‌برند و می‌ترسند، آنها دلتنگی پیدا کرده اند، آنها همه را دشمن فکر می‌کنند و آنها وقتی به سرک راه می روند فکر می کنند هر کس از قوم آنها نیست بدخواه شان است.

شما کاری کرده اید که کودک پشتون سر زمین من که قلب من است حتا از من که داکتر فارسی زبان هستم می‌ترسد، شما کاری کرده‌اید که کودک تاجیک این وطن فکر می کند همه پشتون ها با او دشمنی دارند، شما کاری کرده اید که بچه‌گک هزاره فکر می کند باید در صنف تنها باشد و با کسی دوست نشود.

هرچه می‌خواهید مبارزه کنید، هرچه می‌خواهید در تذکره های تان بنویسید، اما شما را به خدا قسم که این کودکان را از هم جدا نکنید، برای شان از برتری های قومی در خانه قصه نکنید، آنها به همدیگر احتیاج دارند، یک روز به مکتب شان بروید و ببینید آنها چگونه در کنار هم نشسته اند و مشترک سوال حل می کنند، یکبار به مکتب آنها بروید و ساعت تفریح ببینید که چگونه حسین علی از توپی که زدران برایش پاس داده و او توانسته است گول بزند شادمان است و خوشحالی می‌کند.

بین ملالی، زهرا، بیگم و اوستا فاصله ایجاد نکنید، آنها عاشقانه در فاکولته کنار هم می‌نشینند و در ساعت های بیکاری با هم قصه می‌کنند.

# ساينس د طبيعت د پيژندلو لپاره رامنځ ته شوی!

فريد احمد مبارز

غير مسلمان اوجسټ کاونټ وايي: په پخوا وختو کې چې کله به يوه طبيعي پديده وسوله او خلکو به يې علت معلوم نه کړ، نو د هغه نسبت به يې خدای ته کوی، نو خدای بل څه نه بلکې زموږ فکري جوړښت دی، اوس چې ځوانان باسواده سوي دي او د هرڅه علت ورمعلوميږي، نو موږ په خپل ژوند کې خدای ته اړتيا نه لرو. (العياذبالله)

کانټ ته جواب: د ده د خبرو څخه داسې معلوميږي، چې کانټ زيات بيسواده وو، ځکه چې د ده دېوښتنې څخه معلوميږي. په طبيعت کې اوس هم داسې ډيرې پيښې سته چې تشريح سوي لا نه دي، نو د هغه نسبت چاته کوې؟ د پيښې په کيدو او څوک يې کوي دا دواړه سوالونه فرق کوي. ساينس د طبيعت د کنټرول لپاره نه، بلکې د پيژندلو لپاره رامنځته سوی دی؟

مثال: موږ ټول خبر يو چې مځکه او هر څه د جذب قوه لري دا ساينس ثابته کړې ده، مګر دا چې څنګه د دوو ذرو تر منځ دا قوه منځته راځي، په دې ساينس اوس هم نه دی خبر. وخت څه شي دی؟

دا هغه پوښتنه ده، چې ساينس دانان يې پر خوله غورځولي دي، مګر بيا هم دوی وايې: الله سبحانه وتعالی نسته، تاسو خپله د دونيا مهم شی نه پيژنی، نو تاسو د الله سبحانه وتعالی په ذات باندي څنګه ځانونه پوهه کوی؟ سټيفن هاکنګ په خپل کتاب(Brief history of time) په وروستی صفحه کي وايي: د ساينس تر ټولو غټه لاسته راوړنه به دا وي چې د انسان د پيدايښت او د کائيناتو د رامنځته کولو موخه وپيژني. کله چې څوک خپل د وجود په پيدايښت نه پوهيږي، نو بيا څنګه د الله سبحانه وتعالی په ذات ځان خبروي؟

د انسان د بدن (۹۰) فيصده حرکات غير ارادي دي، هغه د چا په وسيله کيږي؟ د اټوم جوړښت او هر اټوم ته خپل خواص چا ورکړه؟ انسان ولي د مځکي د جوړيدو څخه دستي نه سو پيدا؟ ځکه هغه وخت مځکه ګرمه وه، اټموسفير يې نه درلود، انسان ژوند نه سوای کولای، مګر کله چې د ژوند زمينه مساعده سول، بيا پيدا سو دا ولي؟ همداسي نور ډير سوالونه دي، چې د انسان د عقل څخه لوړ دي، مګر بيا هم سوي دي، ددې دا معنا نه سوه، چې ټول په طبيعي توګه سوي دي.

# د ترخو شېبو خواږه ملګري

مولوي وقايت الله (وقار)

د نعمتونو، خوشاليو او پراخيو پر وخت «ياران» ډېر وي او ددې خبرې لوی دليل همدا دی چې چېرته به هم «خانان» بې ملګرو ونه وينئ، کوم خلک چې له خان سره اړيکه لري او ترې تاوېږي راتاوېږي، هغوی ته «خان» مهم نه دی، بلکې هغوی ته د خان «دسترخوان» مهم دی او ددې يوه نښه داده چې که همدغه د نن «خان» د الهي ازموينې په اساس سبا «ملنګ» شي؛ نو يو دم به دا ټولنه دومره بدله ووينې چې دده به په تصور کې هم نه راتلله.

مال او شتمني د اللّه تعالی نعمتونه دي او ښه نعمتونه دي؛ خو دا نو بس د الله تعالی د ازموينې يو رمز دی چې مال او علم، عقل او مال دغه دوه نومونه په اسانۍ نه سره غبرګ کېږي، که يو وي، بل به نه وي او که بل وي، هغه اول به نه وي، داسې خلک د ګوتو په شمېر وي چې دا دواړه دي وربانديې لورول شوي وي، په عامه توګه دا خبره هم د توجه وړه ده چې ډېر کله «خانان» تر ټولو په عقل پاتې خلک وي او د هغې لامل دادی چې د دوی بنداريان دوی په هره روا او ناروا خبره تشويقوي، «خان» چې کله دغه حالت ويني؛ نو خپلې خبرې ورته د کاڼي کرښې ښکاري او بيا نو يوه داسې حالت ته داخل شي چې له عامې ټولنې سره يې رابطه شي، دا چې هغه په خپل عادي مجلس کې په ګډه، وډو سر وو، له عامې ټولنې سره هم په ناستو کې بيا څه چې په خوله ورځي، وايي يې.

دلته چې خان يادېږي او د خان د درباريانو يادونه کېږي، دا نو د يو ډول ملګرتيا يادونه ده چې يوازې په مادي مصلحت ولاړه ده، کله چې دغه مادي مصلحت رنګ شو، دغه ملګرتيا هم ورسره سر خوري.

ملګرتيا د ژوند يو داسې اصل دی چې لکه د مرګ هر څوک پې مني، هغوی چې په ټولنه کې پې مونږ تر ټولو زيات ځان خوښې خلک ګڼو، هغوی هم خاص ملګري لري او د ملګرتيا لپاره ځانګړې طريقه لري، هغه نو زمونږ ستونزه ده چې د هغوی د ملګري کولو چل رانه غلط شوی او د هغوی هم ده چې ولې پې ددغه چل په راښودلو کې همکاري نه ده کړې.

په عامه توګه که مونږ د شتمنو او يا واکمنو وګړو تر څنګ مريدان ډېر وينو، د هغې لامل دا نه دی چې هغوی د کار خلک دي او يا هم د هغوی ملګري ډېر دي، بلکې لامل يې دادی چې هغوی د ژوند يوه داسې پړاو ته ورننوتي دي چې هغه د مطلب آشنايۍ فرصتونه لري او له همدې کبله ډېر مطلب آشنايان ورسره راټول دي.

که يو بې وزله، بې نومه او بې څوکه کس هم دومره مال او واک لاسته راوړي؛ نو لرې نه ده چې هماغومره او يا تر هغې هم زيات وګړي به ترې راچاپېر شي، لکه څنګه چې د ملنګ په اړخ کې دا دده کمال نه دی، دغسې د «خان» او «واکمن» په اړخ کې دا د هغه کمال نه دی چې خلک ډېر لري، بلکې دا کمال په هغه خوږو کې دی چې مطلب آشنا خلک ترې لکه د مچانو تاوېږي. په اسلامي شريعت کې چې د ملګري او ملګرتيا فلسفه ولوستل شي او حتی ټولې اړيکې چې انسان يې پالي مطالعه شي؛ نو دا ترې معلومېږي چې اسلام په حقيقت کې له محض ماده پالنې بې زاره دی، اسلام غواړي چې د مسلمان د ټول ژوند روابط بايد د شرعي ضوابطو په منځ کې اداره شي او دنيا او مافيها بايد تر دې کمه وګڼل شي، چې د يوې رابطې لپاره اساسي هدف وګڼل شي.

د نېکو ملګرو موندل د مسلمان يوه فريضه ده او اسلام دا له دې کبله اړينه ګڼي چې د انساني ژوند ځينې شېبې داسې دي چې انسان پکې يوازې مقاومت نه شي کولی، اګر که څومره پوه او هوښيار ولې نه وي.

د ملګرتيا د ارزښت تر شا چې کوم لوی لامل دی هغه د پراخۍ او سوکالۍ په وخت د ملګرو بنډار نه دی، دا بنډارونه به هم يو څه مهم وي، ځکه زمونږ سلفو به د ايمان تازه والی ګاڼه، مګر تر دې خورا مهم سبب پې دادی چې ملګری بايد د سختو شېبو او ترخو مرحلو په اړه قوي حامي شي او که عملي هيڅ مرسته نه شي کولی، بايد ډاډ او داد خو درکړي.

د ترخو شېبو خواږه ملګري هماغه دي چې کله انسان په ستونزو کې ګير شي او نوره ټوله ماده پرسته ټولنه ترې فاصله واخلي، مګر دغه ملګري ورته لاس ورکړي، ويې پالي او همکاري ورسره وکړي، مونږ چې په کتابونو کې د خپلو مشرانو وينا «هسې دوست ومومه چې په سخته کې دې په کار راشي او په خوشالۍ کې دې پرې مجلس ښايسته وي» لولو، معنی پې همدا ده چې دوست او ملګری بايد په کوم وخت کې په کار راشي؟

هغوی چې په پراخۍ کې تر ټولو نږدې وي او په سختۍ کې پې هيڅ درک نه لګي، ملګري نه دي، دوستان شايد وي او په همدې سبب خو مشران وايي: هغه لاس چې تا سره د تنګسيا په وخت مل وي، له هغه زرګونه لاسونو ښتينی دی چې هدف ته د رسيدو په وخت درکول کېږي. د ترخو شېبو خواږه ملګري نه يوازې ملګري دي، بلکې د دنيا او آخرت د نېکمرغۍ کيلياني دي، ددغسې وګړو لټون او پالنه که څومره هم سخته وي، سخته نه ده او بايده ده چې د ژوند په لومړيتوبونو کې ځای ورکړل شي.

# د مسلمان ضروري مسؤليتونه!

مولوي نورالحق مظهري

۱ – الله پاک تــه متوجه کېدل او پوره تقوی غوره کول.

۲ – پر عباداتو باندي ځان مکلف ګڼل او د عبادت په کولو کي پوره جديت کول.

۳ – د مســلمانانو تر مينځ يووالـــی او ورورولي راوستل او هر مسلمان ته د ځان په سترګه کتل.

۴ – په مسلمانانو کي د سيمي، ژبي او قوم پر بنياد د تقسيم او وېش مخه نيول.

۵ – پــه مســلمانانو کي دا عقيــده محکومول او ختمول چي د ښار خلک د وطن خلک بد بولي او د وطن خلک د ښار خلک بد بولي.

٦ – اســلامي شــعائر پېژندل او د هغو درناوي ته ځان متعهد ګڼل.

۷ – د اسلام دين په پوره غور سره د ټولو اجتماعي ځانګړتياوو او انساني غوراويو سره پېژندل.

۸ – ددين خدمت ته تر ټولو مخکي وړاندي کېدل خو دنورو سره هم پوره مرسته کول.

۹ – د مدرن اوعصري امکاناتو او تکنالوژۍ څخه ددين په ګټه کار اخيستل.

۱۰ – د مال په لاســته راوړلو کي داسي هڅه کول چي د حرام مال څخه ځان او خپله کورنۍ په پوره توګه وساتي.

۱۱ – د خپلــو اولادونو فکري او عملي روزني ته پوره پاملرنه کول.

۱۲ – د هر هغه چا سره مرســته کول چي د اسلام لپاره په هره ذريعه خدمت کوي.

۱۳ ـ پــه تعليم، جهاد، دعوت او تصوف کي چي د اســلام ساتني او غځولو مهمي لاري دي عملي خدمت کول.

۱۴ ـ د اسلامي نظام سره هراړخيزه مرسته کول او د ســمبالولو او بقاء لپاره يې د خپل توان سره سم کار کول.

# کوڼ!

نعمان دوست

چې څنګه مې ور بېرته کړ او د خونې په دېوالـه مې سترګې ونښتې؛ خوله مې پرې خلاصه کړه:

بابا! څه لټ د خدای يې؟ دومره خو ناتوانه هم نه يې. له سهاره په دې يوه دېواله نښتی يې. تر اوسه يې اخېر تمام نه دی. د کوټې له دېواله دې د برلين دېوال جوړ کړی، بدبخته!

هغه يوازې د وره بېرته کولو په وخت کې سترګې راواړولې، له دېواله د هغه مخ ډېر په ختو لړل شوی و. بېرته يې مخ واړو، د ګل مالې، له مخه يې په لاس ختې لرې کړه او بيا يې پر دېواله راکش کړه.

ما ور په ګړزسره پورې کړ او په زوره مې وويل :

که تر مازيګره دې کار خلاص کړی نه و؛ بيا راته په وره قدم کې نږدې!

که څه هم د هغه ګناه نه وه، د دېوالونو پخڅې کږې وږې او ناواره وې، هغه کې هم پخوانی زور نه و پاتې؛ سپين ږيری شوی و؛ خو ماته هم د مزدورانو کمی نه و. هره ورځ به د وره مخ کې راته څو تنه د کار په تمه ولاړ وو.

او بل ما خپلې سپکې سپورې او هر څه اپلتې ځکه بې پروا ويلې چې هغه په کلي کې په کوڼا ماما مشهور و او د کوڼا ماما لقب هغه ته دومره شهرت ورکړی و چې اصلي نوم يې له خلکو هېر و.

کله کله به مې چې ډېر رد و بد، ورته وويل او بيا چې به مې د هغه په سپينه تار تار ږيره نظر ولګېد، وبه شرمېدم؛ ځکه زه د هغه مخ کې لوی شوی وم؛ خو بيا به مې له ځانه سره وويل:

هسې هم کوڼ دی نه يې اوري.

شپه مې پخواني کور کې تېره کړه او سهار وختي نوي کور ته لاړم. سيده د هماغې خونې په لور وخوځېدم. چې څنګه ورنږدې شوم نو هغه له کوټې راووت، په سره ګلداره دسمال يې ملا شخه تړلې وه او په ختو ککړ سطل يې لاس کې و.

چې زه يې وليدم سطل يې کېښود، مخامخ خونې ته يې لاس ونيو، سر مې ور دننه کړ، ډېره ښه يې اخېر کړې وه.

زړه مې و مننه ترې وکړم او پرونۍ بخښنه ترې وغواړم؛ خو دا کار راته د ځان سپکاوی ښکاره شو.

هغه، زما سترګې څارلې او چې کله يې په کې د غوسې نښې ونه ليدې؛ نو رنګ په کې وچلېد، د شونډو له منځه يې ژېړ غاښونه ښکاره شول او بيا يې د ختو سطل پورته کړ.

کوڼا، نن يو ساعت مخکې په کار پيل کړی و. زه هم تر ډېره وخته ورسره ولاړ وم او د هغه کار مې کاته، ښه په بېړه يې لاس خوځاوه.

د کوټې دېوال يې نيمايي خلاص کړ، ګل ماله يې کېښوده، په ختو ککړ لاس يې جام له ګړی ډک او په سر يې واړو.

غوښتل يې چې لږ ساه واخلي؛ خوچې په ما يې سترګې ولګېدې، چټک جګ شو او سطل يې بيا له ختو ډک کړ . زما سترګې لا هماغه شان په دېواله نښتې وې، چې شاته مې د رب شو او چې ځان ته مې وکتل نو جامې مې د ختو له خاپونو ډکې وې.

زر جګ شو او چې زما سپين کالي يې په ختو وليدل، په رپا شو. ما بيا سترګې پرې راووېستې په غضب ککړ شې، کوڼ خو خدای (ج) کړې په دې سترګو دې څه بلا ولګېده؟ او بدبخته!

هغه هماغه شان رپېده .

ما وې: دا دی پوره نهه بجې دي. زه کور ته ځم. کالي بدلوم او ځان سره د غرمې ډوډۍ هم راوړم. که تر هغه وخته اخېر خلاص نه و بيا ګيله ونه کړې!

کورته راغلم، کالي مې بدل کړل، چای مې وڅښه او چې کله د ساعت ستن په دوولسو درېدله نو دېګ بخار، کاسې او ډوډۍ مې راواخيستل او روان شوم. موټر مې د کلا مخې ته ودراوه. شيان مې ترې راښکته کړل، د انګړ د منځ په سوپه کې مې په اوار ګيلم کېښودل او بيا مخ په خونه غلی غلی روان شوم.

هغه هماغه شان په بېړه لګيا و، چې زما سيوری يې وليد مخ يې راواړو: ډېره خواري مې وکړه و الله که مې دمه کړې وي دا دوه لوېشتې ځای پاتې دی نور ختم دی.

ما غږ ونه کړ. زړه مې نرم شو او بېرته ووتم. دسترخوان مې وغوړاوه، کاسه کې مې ډوډۍ ماته کړه، هر څۀ مې برابر کړل، ور ناري مې کړې:

ماما راځه پرېږده يې ! کوڼا له کوټې غږ کړ : ښه ده بچې، کار هم تمام شو.

د ده غږ نه و ، سم توپان و . د شرم خولې مې پر بدن راماتې شوې. هغه راووت. له ملا يې دسمال خلاص کړ او باندې لښتي کې د مخ او لاسونو په وينځلو لګيا شو.

ما ته خپلې تېرې سپکې سپورې يوه يوه رايادېده، دواړو په يوه کاسه شروع وکړه، هغه وويل: بچې ! تا به جلا خوړلې وه . ما سره به مزه در نکړې، مزدور سړی يم.

خو زما سترګو د پورته کتلو وس بايللی و، ډوډۍ مې په څه خوارۍ وخوړه، دسترخوان مې ټول کړ، د هغه پياله مې له شنه چايه ډکه کړه او زړه مې غټ کړ: ماما! ما پرون څومره په زوره خبرې کولې، يوه دې هم وانه ورېده، نن دې اول غږ واورېد او بيا له کوټې راووتې؟

هغه ماته ځير ځير وکتلې، په ږيره يې لاس تېر کړ، موسکی شو او بيا يې سترګې اخوا دېخوا وګرځولې:

ګله! زه کوڼ يم، بايد کوڼ وه اوسم، خو ستا پرونۍ خبره دروغ وه. زه خدای نه يم کوڼ کړی ما ... غلی شو.

د زړه درزا مې نوره هم زياته شوه ، ماوې که په ځمکه ننوتم؛ خو کا ر شوی و.

ښه شېبه دواړه غلي وو، ما بيا فکر په ځای کړ .

نو چاکوڼ کړې؟ هغه بيا څو ځلې له نظره تېر کړم،

چې نه مې پرېږدې نو غوږ شه:

کله چې له بدې ورځې ، ماته خپل کلي کې د ناستې ځای پاتې نه شو؛ نو ستا سو کلي ته په کډه راغلم. ماته نور هېڅ پاتې نه ول؛ خو يواځينی شی، چې راسره و، زما غيرت و .

دې کلي کې مې ډېرې ترخې شپې تېرې کړې. په لومړيو وختونو کې چې به چا کار ته بوتللم چې سپکه خبره به مې ترې واورېده، نو کار به مې پر ځای پرېښود او ترې روان به شوم؛ خو تر څو ؟

ماشومانو ډوډۍ غوښته، ونه شوه، اخر مې ځان کوڼ کړ ، تر څو خلک راته بې غيرته ونه وايي، اوس له هماغه وخته راهيسې راته خلک کوڼ وايي .

# د اوکراین اتلان او د افغانستان ترهګر!!

**س. سعید غلجی**

د ځان دفاع د هر ژوندي مخلوق طبیعي حق دی، آن چې د مچۍ ځاله باندې هم یرغل وشي، هغه حتماً سخت عکس العمل ښایي.

همدا وجه ده چې د نړۍ په تاریخ کې هر ځای چې یرغل شوی، حتماً یو مقاومت شوی او ځایي اوسېدونکي یې پر وړاندې راپورته شوي. دا خو معقوله نه ده چې یو څوک دې پر نورو د تعرض او یرغل حق ولري، خو دوهم جانب دې د دفاع حق ونه لري؟!

د نړۍ ټول ازاد هېوادونه د خپلې ازادۍ ورځې لمانځي او هغه جنګیالي ستایي چې د بهرنیو یرغلګرو خلاف یې د خپل هېواد دفاع کړې، چې څومره زیاتې قربانۍ یې ورکړې وي، هغومره زیات ستایل کېږي او ان د اتلانو القاب ورکول کېږي. د هغوی په نوم علمي، اجتماعي او فرهنګي مراکز جوړېږي، سیمې، واټونه او څلورلارې یې پر نوم نومول کېږي او ان ورځې یې لمانځل کېږي.

د ټولو هېوادونو د تاریخ عمده برخه همدا ده، چې فلاني له وطن سره خیانت کړی او فلاني د وطن دفاع کړې، ځینې ملي خاینین بلل کېږي او ځینې ملي اتلان. مونږ ولې احمد شاه بابا، میرویس نیکه، وزیر اکبر خان، امان الله خان او بیا تر هغه راوروسته د شوروي پر خلاف مبارزین او مجاهدین ستایو؟ او ولې شاشجاع، کمونستان او د صلیبي یرغل نوکران غندو؟ همدغه شان، هر څوک خپل اتلان او خاینان لري.

په اوکراین کې د روسیې پر خلاف جنګېدونکي ځوانان د اوکراینیانو اتلان دي، خو دا چې اوس یې ګرده غربي نړۍ هم اتلان بولي او خپله ټوله تبلیغاتي دستګاه یې د اوکرایني اتلانو د ستاینې لپاره وقف کړې، وجه یې دا ده چې غربیان له روسیې سره رقابت لري او د هغوی له ضده د اوکراین ملاتړ کوي، کنه اوکراینیان یې هم د مور زامن نه دي.

خو بل پلو چې همدغو غربي رسنیو به په افغانستان کې د یرغلګرو خلاف جنګېدونکو ځوانانو ته ترهګر او ترورېستان ویل او اوس هم لګیا دي کرۍ ورځ د اسلامي امارت پر خلاف زهرجن او درواغجن تبلیغات کوي، وجه یې دا وه چې دلته یرغلګر خپله همدوی وو، نو طبعاً د ځان پر خلاف خو څوک د بل چا ملاتړ نه کوي.

کنه موضوع خو یو شان ده، اوکراینیان هم د خپل هېواد د دفاع او د یرغلګرو شړلو لپاره جنګېږي او افغانان هم د خپل هېواد د ازادۍ او د یرغلګرو د شړلو په موخه جنګېدل. مونږ به که د یرغلګرو د ټانګ الوځولو لپاره کوم وړوکی پلچک یا یو دوه متره سړک والوځولو، مونږ ته به یې ورانوونکي ویل، خو چې په اوکراینیانو د روسي یرغلګرو د مخنیوي لپاره خپل تر ټولو لوی پل والوځولو، هغه د وطن دفاع او تدبیر وبلل شو.

نو خلاصه دا شوه، چې د هر هېواد اتلان او خاینان فقط د هغوی لپاره اتلان او خاینان دي، کنه همدغه اتلان د نورو هېوادونو په نزد ترهګر او ترورېستان دي او همدغه خاینان د نورو هېوادونو په نزد محترم او معزز دوستان دي.

دا چې اوس زمونږ هیوادوال له غربي نړۍ څخه ګیلمن دي، چې ولې اوکراینیان اتلان ګڼي او مونږ ته یې ترهګر ویل، دا زمونږ خپله ساده ګي ده، ځکه چې د جګړې په جریان کې له خپل دښمن څخه د خپل صفت اورېدل هیڅ عقل نه مني، زمونږ توقع کاملاً غلطه ده.

مونږ چې کله د شورویانو پر خلاف جنګېدو، هغه مهال همدغو غربي رسنیو زمونږ ښه ملاتړ کاوه او هم یې اتلان بللو، ځکه زمونږ جګړه د داسې چا پر خلاف وه، چې غربیانو هم ورسره دښمني درلوده. نو همدغه شان اوس اوکراین هم له هماغو روسانو سره جنګېږي، چې غرب هم ورسره دښمني لري، له همدې امله یې ملاتړ او ستاینه کوي.

بالمقابل د غربي ښکېلاک پر خلاف مو چې کومه جګړه وکړه، نو شرقي بلاک مو ستاینه کوي او دا دی چین، روس او ایران همېشه غربیانو ته په افغانستان کې د ماتې پېغورونه ورکوي.

خو حقیقت دا دی چې هر هېواد د خپلو اتلانو او خاینانو د پېژندلو لپاره خپل ځانګړي دیني او ملي معیارونه لري او هماغه یې واقعي تله ده، څوک چې د خپل هېواد د معیار او تعریف مطابق اتل وي، هغه اتل دی او څوک چې د خپل هېواد د معیار او تعریف مطابق خاین وي، هغه خاین دی. د نړیوالو په خوله څوک نه اتل کېږي او نه خاین کېږي، ځکه هغوی ته خپلې ګټې مهمې دي، ښایي ځینې مبارزین اتلان وګڼي او ځینې ترورېستان، هغوی د خپلو ګټو پر اساس اتلان او خاینان ټاکي. نو د هغوی نظریات پرېږدئ، خپل تاریخ په خپله ولیکئ!

# مونږ په (۲۱۲۳) م کال کې!

**حسان مجاهد**

رسول اللهﷺ فرمایي: زما دامت عمرونه به له شپیتو څخه تر اویا کلونو پورې وي او ډېر کم به داسې خلک وي چې عمرونه یې له اویا کلونو څخه واوړي. [ترمذي او ابن ماجه]

دحدیث په تشریح کې علماؤ لیکلي: که د ځینو خلکو عمرونه تر اویا کلونو واوړي؛ نو هغه عمر په نیستي حساب ده؛ ځکه په هغه وخت کې سړی دبل محتاجه وي او دخلکو په نظر ډېرخوار وي.

محمد بن ابي عمیرة رضی الله عنه وایي: که څوک له پیدایښت سره سم بیا تر وفاته پورې الله تعالی ته سر په سجده شي؛ نو یقیناً دی به له مرګه وروسته دغه اوږد مهاله عبادت ډېر لږ وبولي او دا ارمان به لري چې کاشکي بیا دنیا ته ستون شوی وای، چې ثواب یې نور هم زیات شوی وای. [رواه احمد، مشکواة ص۴۵۲]

نن ورځ مسلمانان په ځانګړي توګه ځوان قشر خپل قیمتي وخت په بې ګټې کارونو کې صرفوي او دماشومانو په څېر په لهو لعب بوخت وي، دوی دا خبره له ذهنه ایستلې ده چې زمونږ په څېر ځوانانو په تاریخ کې څه ډول حیرانوونکې کارنامې تر شا پرېښې دي؟! اسامه بن زید رض په اولس کلنۍ کې دیوې سترې جګړې قوماندان و. محمد الفاتح په دوویشت کلنۍ کې قسطنطنیه فتحه کړه. محمد ابن قاسم په اولس کلنۍ کې هند آزاد کړ.

هغه کسان چې عمرونه یې تر سلو کم و خو کار یې په کې دسوونو کلونو کړی دی؛ لامل یې یوازې دوخت قدر و!

عبید بن یعیش(رح) وایي: ما په دیرش کاله کې په خپل لاس دوډۍ نه ده خوړلې، بلکې خور به مې په خوله کې ګوله راکوله اومابه حدیثونه لیکل.

امام فخر الدین رازي(رح) وایي: قسم په خدای! په هغه وخت باندې ډېر تأسف کوم، چې زه خوراک په کې کوم ځکه وخت ډېر قیمتي دی.

شمس الأیمه امام سرخسي (رح) په څوارلس کلنه زنداني دوره کې دڅاه له تله څخه خپلو شاګردانو ته درس ورکول او هغوي به لیکل، په دې موده کې یې په دیرش ټوکه کې لوی کتاب «المبسوط» ولیکل. مونږ آزاد ژوند ضایعه کوو، خو هغوی زنداني ژوند هم له ضیاع څخه ژغورل.

نن ورځ دنوي کال په رارسیدو سره یو بل ته تبریکي ویله کېږي، خو دا فکر بیا نه کوي چې په( ۲۱۲۳) م کال یعني له نن څخه سل کاله وروسته به مونږ تر تورو خاورو لاندې یو، زمونږ مال او جایداد به دنورو په واک کې وي، په مونږ پسې د ژړا کوونکو غم به سپک شوی وي، مونږ به دحسرت او وحشت په کور کې یوازې پراته یو. آیا مونږ یوې داسې کارنامې او خدمت ته اراده کړې چې سل کاله وروسته زمونږ لپاره فخر وګرځي او له دې فاني نړۍ څخه په مونږ پسې له شا یې ثوابونه را روان وي؟!

پایله داچې نور خپل قیمتي وخت مه بربادوئ، دراتلونکي غم وخورئ او په دا مختصر ژوند کې داسې څه تر شا پرېږدئ چې په دنیا کې د ژوندو لپاره د نجات ذریعه شي او په آخرت کې ستاسو تشه په را ډکه شي، د خپل ژوند زیاته برخه مو ضایعه کړې ده، دا پاتې لږه برخه باید په داسې شیانو کې ولګوو چې الله تعالی ته پرې نږدې شو او داسلامي امت لپاره د اصلاح او فلاح وسیله وګرځي.

# په هېوادونو کې د مداخلو لپاره مصنوعي بانې لټول کېږي!

**عبدالله عزام**

په شپږمه پېړۍ کې په یمن کې د حُمیریانو واکمني وه. یو پاچا یې ذو نواس الحمیري نومېده. یوناني تاریخپوه بروکبیوس چې په شپږمه پېړۍ کې یې ژوند کړی دی، په خپل کتاب (د روم او پارس د جګړو تاریخ) کې لیکي:

ذو نواس خپل ټول ژوند له روم سره دښمنۍ ته ځانګړی کړی و، په سور سمندر کې چې به د رومیانو هره سوداګریزه کښتۍ تېرېده، نوموړي به برید پرې کاوو. د ذو نواس د دې کړنو پایله دا شوه چې په سره سمندر کې سوداګري په ټپه ودرېده. په دغه وخت کې به ټول تجارتي مالونه د یمن په بندرونو کې تخلیه کېدل او بیا به د عربو تجارتي قافلو د عربي جزیرې له لارې شام ته انتقالول او پر رومیانو به یې د خوښې په بیه پلورل. دا هغه وخت ؤ چې د عربو تجارت به پکې ښه سور نیولو او الله تعالی یې په سورة قریش کې هم ذکر کړی دی.

دا چې د سره سمندر له لارې د مصر ساحلونو او بیا د روم قلمرو ته د تجارتي اموالو رسېدل به منع شول، نو له امله به یې د حبشې سوداګریز بازارونه هم زیات زیانمن شول. د دې په تعقیب د حبشې پاچا، ذو نواس ته لیک واستاوه او د روم په اړه یې د نوموړي پر دریځ سخته نیوکه وکړه ځکه چې له امله یې په سره سمندر کې د حبشې سوداکري هم زیانمنه شوې وه. د حبشې پاچا ورته ولیکل که چیري پر خپل دریځ فکر ونه کړې نو دی به د خپل هیواد د اقتصادي زیان په اړه چوپه خوله پاتې نشي.

ذو نواس پر خپل دریځ ولاړ و او هیچا ته یې اجازه نه ورکوله چې سور سمندر د ترانزیټ په توګه وکاروي او یا په یمن کې سوداګري وکړي. د حبشې پاچا النجاشي اړ شو چې د ذو نواس پر ضد د جګړې اعلان وکړي. اصل خو یې سور پر اقتصادي زیان او د ترانزیټ لارې پر بندېدلو خراب و، خو چې جګړه پیل شوه، اعلان یې وکړ چې: نوموړی په یمن کې د مسیحیانو له حقوقو د ملاتړ او دفاع لپاره جنګ کوي.، تر څو په دې سره د رومیانو مرسته او خواخوږي جلب کړي. نو خبره مې دا کول چې تاسې پوښتنه وکړئ چې زمونږ د ګاونډیانو تجارت یا ترانزیټ خو به د افغانستان په خاوره کې نه وي مختل شوي، چې له امله یې د ترهګرۍ په بانه دلته مداخله کول غواړي تر څو تر دې لېبل لاندې د غرب ملاتړ را جلب کړي؟

مګر پښتانه متل کا چې:

د ښکاري تازیانو خولې تورې وي.

# شعر و ادب

## غزل

**نورګل اندړوال**

ستا د عشق خبرې ټولې نه اخلي سرزوری دی
زړه مې د تویټر د حافظې په څېر کمزوری دی
وخت د ډمې زوی دی او ډمتوب یې د نفرت کیسه
ژوند قوت لایموت ده او په هرلورې یې لوری دی
نور پکې خپل ژوند لټوي زه پکې خپل عشق ګورم
ورک ستا د تقدیر آسمان کې زما د مینې ستوری دی
برندې سترګې ګرځي جګړه مارشراو شدت ستایي
ښار کې د شر پالو امن پال سړی مخ توری دی
دښتې د حُسنو له مودو دلته جل وهلي دي
سور تېتنګ راخور دی له دنیا ورک شوی سیوری دی
بند کولپ به کړم مات ستا د ښکلا خواږه به وشیندم
وشوه موده ډېره اندړوال پسې وچ موری دی

## وینښ شه!

**شاه محمود درویش**

تش د یووالي غږځای نه نیسي عمل غواړي
وینښ شه پښتونه وخت له تاځنې تکل غواړي
څو د اغیارو رنګارنګ تورونه زړه کې زغمې
دغه مرموز تورونه ټول لاره د حل غواړي
ته سوله پال یې سوله غواړې دهر چا له پاره
افسوس چې ګیرمدام دبل چال او نیرنګ کې ته یې
دا د اغیارو د ناوړه موخو لومې دي چې
مدام په هرنوم یې ښکیل کړی تل په جنګ کې ته یې
په دې موخه یې ستا په زړه د ډورند کرښه کښلې
ترڅو د ستر پښتون په کورکې یو بیلتون راولي
دا لر او بر قومونه ټول سره خواره واره کړي
ترڅو د دوئ په کلک هوډونو کې بدلون راولي
خو ته راوینښ شه دا منحوسه کرښه پاکه کړه نور
ترڅو دا لر او بر پښتون نه یوقوت جوړ شي
دا تربګني او ځان ځانی کړه نوره ختمه دلته
ترڅو په میشت واړه قومونو کې وحدت جوړ شي
نو دا ملي ګټې ملي خوځښت ته لارې څاري
دا په چوپتیا نه کېږي غږ دهرپښتون غواړي
دا ځان ځانی به هرڅه شته له تاسو لولپه کړي
هوسا ژوندون تاسونه کلک ملي تړون غواړي
که چیرې یونه شو ورکېږو داغږ مه هیروئ
ځکه یووالی د پښتون قوم د نجات نښه ده
دا لر او بر که چیرې یو موټی او یو قوت شي
نو بې له شکه دا موملک کې د ثبات نښه ده
درویشه څنګه چې په ګلو ګلستان ښکلی دی
داسې د پوهې په زیور هریو انسان ښکلی دی
دلته په میشت واړه پټمن او غیرتي قومونو
ربښتیا چې تل ترتله ګران افغانستان ښکلی دی

# افـــغـــان اعـــلانـــات

### اطلاعیه مفقودی
یک قطعه جوار کار اتباع خارجی تبعه کشور پاکستان به اسم رشفاق خان خان مفقود گردیده اعتبار ندارد.۳۵۳۸

***

### اطلاعیه مفقودی
یک قطعه جوار کار اتباع خارجی تبعه کشور پاکستان به اسم عادل صابر مفقود گردیده اعتبار ندارد.۳۵۳۷

***

### اطلاعیه مفقودی
یک قطعه جوار کار اتباع خارجی تبعه کشور پاکستان به اسم مکمل شاه مفقود گردیده اعتبار ندارد.۳۵۵۴

***

### اطلاعیه مفقودی
یک قطعه جوار کار اتباع خارجی تبعه کشور پاکستان به اسم شهناد انور مفقود گردیده اعتبار ندارد.۳۵۳۹

***

### اطلاعیه مفقودی
ترجمه انگلیسی نکاح خط شرعی دارای نمبر ۱۸۴۵۸۹ به اسم محمد ابراهیم نعیمی فرزند محمد نعیم و محترمه عزیزه بنت محمد عزیز مفقود گردیده اعتبار ندارد.۳۵۲۹

***

### اطلاعیه مفقودی
ترجمه انگلیسی تولد کارت به اسم ولید ملا خیل فرزند مکایل مفقود گردیده اعتبار ندارد.۳۵۲۵

***

### اطلاعیه مفقودی
زوجیت خط شرعی به اسم انیب فرزند عبدالکبیر مفقود گردیده اعتبار ندارد.۳۵۲۱

### اطلاعیه فروش موتر
اسامی محترم اسد الله فرزند عبدالستار یک عراده موتر پلیت ۲۴۵-۶ ش کابل نوع تویتا لندکروزر زرهی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای حسن شاه فرزند احمد شاه بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتیکه با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۳۵۲۲

***

### اطلاعیه تغیر اسم لابراتوار
محترم محمد شریف فرزند محمد اکبر مالک طلوع نورزی طبی لابراتوار که قبلا ذریعه مکتوب نمبر ۶۵۵۸۴۸ مورخ ۱۳۹۵/۶/۶ رسما از طریق این ریاست در مربوطات ناحیه دوم شهر کابل افتتاح گردیده است اکنون طی درخواستی به مقام محترم وزارت صحت عامه خواهان تغیر اسم لابراتوار خویش از طلوع نورزی طبی لابراتوار به شریف طبی لابراتوار گردیده است که مقام محترم احکام لازم ارشاد فرموده اند.

اشخاص ، موسسات و دوایر دولتی که در مورد لابراتوار مذکور ادعای داشته باشند از تاریخ نشر اعلان الی مدت ده یوم به وزارت صحت عامه آمریت عرضه خدمات بخش صدور جواز خصوصی مراجعه نموده در غیر آن ادعای شان باطل میباشد.۳۵۲۶

***

### د داوطلبیو اعلان
د برښنا د تولید حوزوی ریاست په نظر کي لري چه ۱۰ جریب ځمکه چه د نغلو د بند په ساحه کي موقعیت لري په میاشتنی اجاره او کرایه د آزادې داوطلبی او مزایدي له لاري ورکړی.

وړ علاقه مندان دي د نشر اعلان څخه وروسته د ۲۱ ورځو په موده کې د برښنا د تولید حوزوي ریاست د تهیه او تدارکاتو مدیریت ته مراجعه وکړي ترځو شرط پاڼه تر لاسه کړی، داوطلبی له ۲۱ روځو څخه وروسته په دوه ویشتمه ورځ د سهار په ۱۰ بجو د برښنا د تولید حوزوي ریاست د کنفرانس په خونه کي تر سره کیږی، تضمین او د شرط پاڼې قیمت ۲۰۰۰ افغانی نقدا تر لاسه کیږی.

ناوخته رسیدلې، انترنیتي او اخلاص آفرونه د منلو وړ نه دي. ۳۵۲۳

***

### د داوطلبیو اعلان
د برښنا د تولید حوزوی ریاست په نظر کي لري چه ۱۵۰۰ متر مربع ځمکه چه د کابل ـ جلال آباد په لویه لاره د نغلو د بند په ساحه موقعیت لري په میاشتني اجاره او کرایه د آزادي داوطلبی او مزایده له لاري ورکړی.

وړ علاقه مندان دي د نشر اعلان څخه وروسته د ۲۱ ورځو په موده کې د برښنا د تولید حوزوي ریاست د تهیه او تدارکاتو مدیریت ته مراجعه وکړي ترځو شرط پاڼه تر لاسه کړی، داوطلبی له ۲۱ روځو څخه وروسته په دوه ویشتمه ورځ د سهار په ۱۰ بجو د برښنا د تولید حوزوي ریاست د کنفرانس په خونه کي تر سره کیږی، تضمین او د شرط پاڼې قیمت ۲۰۰۰ افغانی نقدا تر لاسه کیږی.

ناوخته رسیدلې، انترنیتي او اخلاص آفرونه د منلو وړ نه دي. ۳۵۲۴

### اعلان تدارکات
وزارت امورخارجه از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی پروژه ذیل اشتراک نمایند :

| اسم پروژه | شماره داوطلبی | تاریخ آفر گشائی | زمان آفر گشائی | تضمین آفر داوطلبی |
|---|---|---|---|---|
| شبکه سازی سیستم تعمیر انستیتوت LAN دیپلو ماسی | NOFA /NCB /1401 /W-001 | ۱٤۰۱/۱۱/٥ | ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر | ۷٥٤۳۸ افغانی |

نقل شرطنامه را بر اساس درخواستی داوطلب در فلش و یا سی دی به طور رایگان از ساعت ۸:۳۰ صبح الی ۳:۳۰ بعد از ظهر از مدیریت عمومی تدارکات وزارت امور خارجه بدست آورده و آفر های خویش را مطابق شرایط شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سربسته از تاریخ نشر اعلان الی تاریخ های فوق الذکر و وقت معینه که آخرین میعاد ضرب الاجل تسلیمی آفر ها درج شرطنامه معیاری نیز می باشد، به مدیریت عمومی تدارکات وزارت امور خارجه واقع چهار راهی ملک اضغر ناحیه دوم شهر کابل، افغانستان ارائه نمایند، آفر های ناوقت رسیده و انترنتی قابل پذیرش نمی باشد.جلسه آفر گشائی در دفتر جلسات مدیریت عمومی تدارکات وزارت امور خارجه تدویر می گردد، شماره تماس (۰۲۰۲۱۰۳٦٦٦) دفتر تدارکات.

نوت : پول نقد به عنوان تضمین آفر پذیرفته نمی شود.۳٥٤۳

### دعوت به داوطلبی

| شماره | نام پروژه | شماره دعوت به داوطلبی |
|---|---|---|
| ۱ | پروژه تهیه و اکمال ٦ قلم نیازمندی تمام بخش های مختلف ریاست پاسپورت | MOI-۱٤۰۱-F- ۰۱۱۰ |
| ۲ | پروژه امور ترمیمات دو باب پوسته قوماندانی قطعه امنیتی ۰۱۲ محافظت از آثار باستانی | MOI-۱٤۰۱-F۰۰۷۸- |
| ۳ | پروژه امور ترمیم اساسی یک پایه جنراتور ۹۰۰۰ کیلو وات ضرورت قوماندانی حمایوی ولایت ننگرهار | MOI-۱٤۰۱-F۰۰۷۹- |
| ٤ | پروژه ترمیمات و رنگمالی ریاست عمومی پولیس ترافیک | MOI-۱٤۰۱-F- ۰۱۰۹ |
| ٥ | پروژه امور وصل برق قطعه خاص ولایت هلمند | MOI-۱٤۰۱-F- ۰۰٤٦ |

اداره: ریاست تدارکات وزارت امور داخله جدید
محل توزیع آفر: ریاست تدارکات، کمیته موظف
زمان آفرگشایی: ۲۳ روز بعداز اعلان
محل آفرگشایی: ریاست تدارکات
اداره: د تدارکاتو ریاست، د کورنیو چارو وزارت نوی تعمیر
د آفر دتوزیع کولو ځای: د تدارکاتو ریاست، گمارل شوې کمیټه
د آفر پرانستنې تاریخ: ۲۳ ورځی وروسته له اعلان څخه
د آفر پرانستې ځای: د تدارکاتو ریاست

# د ۲۰۲۲ میلادي کال لوړې ژورې

د ۲۰۲۲ میلادي کال له ټولو لوړو او ژور سره مل پای ته ورسېد، هغه کال چې په کې له افغانستان سره د نړیوالې ټولنې چلند د مقابلې په ډول و او د همکارۍ روحیه په کې کمه وه.

د باختر آژانس مبصر لیکي: ۲۰۲۲ میلادي کال د افغانستان لپاره له ماجرا ډک کال و، سره له دې چې اسلامي امارت د تېر عیسوي کال په بهیر کې هلې ځلې وکړې، چې له افغانستان سره د تعامل او همکارۍ مفکوره زیاته شي خو د افغانستان او د واکمن نظام پر وړاندې دښمنانه سیاستونه او پلانونه په کې په خپل ځای و.

لویدیځو هېوادونو د اسلامي امارت پر زیاتره پروګرامونو او پلانونو انتقادونه وکړل او په افغانستان کې له موجود نظام سره د اړیکو د تامینولو لپاره شرطونه کېښودل.

اسلامي امارت د ۲۰۲۲ میلادي کال له پیل څخه تر پایه له نړیوالې ټولنې سره د همکارۍ روحیه درلوده او هلې ځلې وشوې، چې ستونزې او بې باورۍ د تعامل او همکارۍ له لارې حل شي.

خو امریکا او لویدیځ هېوادونه چې اوس هم د افغانستان پر نسبت د سترو پلانونو مفکوره لري هلې ځلې کوي، چې د اسلامي امارت له خوا د تعامل او همکارۍ طرحه شوې مفکوره، چې زیاتره د اقتصادي فعالیتونو د ودې او له سازمان موندلو جنایتونو سره د مقابلې لپاره د هېوادونو پر همغږۍ متمرکز و له پامه وغورځول شي.

له بده مرغه یو شمېر نورو هېوادونو په دې افغاني ضد کمپاین کې د امریکا او لویدیځو هېوادونو لاره تعقیب کړه او پایله یې دا شوه، چې د اسلامي امارت له خوا طرحه شوې مفکوره چې د تعامل او خبره لاره وه له ستونزو سره په خپل حال پاتې شي.

د تېر کال په بهیر کې په افغانستان کې نوي نظام په داسې حال کې چې د خلکو ملاتړ له ځانه سره لري او له لوړ کاري ظرفیت سره رامنځته شوی، سره له دې چې یو زیات شمېر هېوادونه له هغه سره د همکارۍ او تعامل د خبرو غوښتنه کوله خو هېڅ هېواد هغه په رسمیت ونه پېژاند، چې نه شو کولای دغه کار د اسلامي امارت ستونزه محاسبه کړو.

اسلامي امارت د دوه اړخیزو او څو اړخیزو ګټو پر بنسټ له هېوادونو سره د اړیکو پر تأمینولو او تعامل او د هېوادونو ترمنځ د ملي ارزښتونو او د مشروع ګټو پر ساتنې ټینګار کوي په داسې حال کې، چې په افغانستان کې د نوي نظام د په رسمیت پېژندلو خبرو کې امریکا، لویدیځ او یو شمېر نور هېوادونه شرطونه وړاندې کوي.

د سرپرست حکومت پر ۱۳ مقاماتو د سفر د ممنوعیت لړۍ نه شو، د ملګرو ملتو په سازمان کې د افغانستان څوکۍ اسلامي امارت ته ورنه کړل شوه او د تېرعیسوي کال په وروستیو ورځو کې یو زیات شمېر مرستندویو موسسو او بنسټونو په بېلابېلو پلمو په افغانستان کې خپل فعالیتونه ودرول.

په ټولیزه توګه د همکارۍ پرځای تورونه ولګول شول او د افغانستان او په هغه کې د واکمن نظام د هویت د ویجاړولو لپاره کار ګرندی شو، هغه څه چې تېرکال رامنځته شول نه شي کېدای د افغانستان پر وړاندې د امریکا او لویدیځو هېوادونو د معقول چلند ښکارندوی وي... ص۷

# د جنوري دوهمه د اندلس د سقوط کلیزه!

**ژباړه: سعیدي**

د اندلس یو لیکوال د الحمراء وروستی ماښام خومره ښه انځور کړی دی. هغه لیکي: الحمراء اوس هم هر مازیګر لمر ګوري، د افق په څنډو کې د هغې وروستۍ ننداره کوي. د فطرت پدې روزمره بدلون کې د ماضي یوه کیسه لولي. فردیناند ګوري، ایزابیلا ګوري، د تور کمیډا پر اوږو لوی صلیب ګوري. شپه شي، د الحمراء پر دېوالو شمعې بلې شي او د شنیل سیند په غاړه د سترګو تر څاره د صلیب لښکر ښکاري. الحمراء یو غږ اوري: نن د هغه قوم دلته وروستۍ شپه ده چې اته سوه کاله دلته حاکمان ؤ. د الحمراء ستوري د پخوا ډېر ځلېدل، چا ویل: نږدې راغلل چې لدې ځایه د طارق د بچو جنازه اوچته کړي. پر دې شپه څوک ویده نشول، تر سهاره ویښ ؤ. د ابوالحسن زړه مېرمن ژړېده. هغې د الحمراء سره «خدای په امانې» کوله. سهار شو، د لرې نه د صلیب نغارې کړنګېدلې او دلته د وروسته ورځې اذان وشو. د وروستي مسلمان حاکم ابوعبدالله سترګې له غمه سرې وې، کرار کرار یې د شنېل لاره ونیوله، فردیناند مخې ته خم شو، د هغه احترام یې وکړ، ویې ویل:

معزز ټولواکه، دا د الحمراء کیلي ګانې دي. له نن وروسته ته د دې وارث یې. که د یو لوېدلي، مات شوي دښمن وروستی ارمان پر ځای کړې، احسان به دې وي. فردیناند وموسکل: وایه ابوعبدالله، ته زمونږ په وعدو باور کولی شې. ابوعبدالله وویل: د الحمراء لدې دروازې زه راووتم، دا د تل لپاره بنده کړئ چې بل مسلمان حاکم لدې ځایه راونه وځي. ابوعبدالله غریو نیولی مات مات لاړو، ژړل یې او چې کله د لوی غونډۍ سرته وخاته، د وروستي ځل لپاره یې الحمراء ته وکتل، ده د تاریخ وروستی ناکام مسؤلیت ترسره کړ او په کړیکو یې وژړل. ملکې عایشې وویل: راځه زویه، د کومې خاورې نه چې تا د سړو په څېر دفاع ونکړه، د ښځو په څېر پرې مه ژاړه. د ابن غسان اتکل سم وخاته، د دې سهار وروسته د اذان غږ چا وانه وریده.

# ګناهونه او زمونږ بهانې!

۱ - رشوت؛ شریني ده .
۲ - موسیقي؛ د روح غذا ده .
۳- نامحرم ته کتل؛ یو نظر حلال دی .
۴ - غیبت؛ مخامخ یې هم ورته ویلی شم .
۵- سود خوري؛ ټوله دنیا یې خوري .
٦ - مبتذل پروګرامونه؛ سړی یو شی زده کوي
۷ - تهمت؛ صرف زه خو نه وایم ټوله دنیا یې وایی .
۸ - حرام مجلس؛ صرف یوه شپه ده او بس .
۹ - بې حجابي؛ زړه خو مې پاک دی .
۱۰ - بې لمانځي؛ فلانی چې لمونځ کوي زر فساده ورسره کوي .
۱۱ - شراب څکي؛ خدای خو مهربان دی .
۱۲ - غیر شریعي ودونه؛ څه فاتحه او جنازه خو نه ده .
۱۳ - اسراف؛ خلک را پورې ونه خاندي .
۱۴ - عیاشي؛ دوه ورځې ژوند دی .
۱۵ - په جماعت سره لمونځ نه کول؛ وخت نه لرم .

- هیله ده چې هېڅکله موږ داسې بهانې ونه کړو ځکه چې یوه داسې ورځ راتلونکې ده ، چې هر اندام به دې خبرې کوي ، بیا به افسوس افسوس کوي ، خو وخت به تیر وي.

## ننګرهار کې د څه باندې ۲۱ میلیونه...

مراسمو کې د جلال اباد ښاروال حاجي ملا نعمت الله اخند، تخنیکي او سکتوري چارو رئیس مولوي انجنیر عبیدالله شیرزاد، د لومړۍ ناحیې آمر ګل منیر، د ښار او ارزونې آمر سمسور ملکزي، دیني علماوو، ګذر وکیلانو او ځوانانو برخه اخیستې وه. جلال اباد ښاروال وویل، د خوښۍ ځای دی، چې نن د خپلو ولسونو په منځ کې په داسې یوه ناسته کې ګډون کوو، چې د بیارغونې او ابادۍ ناسته ده. نوموړي وویل، چې موږ هوډ کړی، چې د ښار په ټولو ناحیو کې متوازن انکشاف رامنځته کړو، ترڅو هغه برخه چې په تېرو څو کالونو کې ورته کار نه دی شوی، هغلته د ابادۍ او پرمختګ پروژې پلي کړو. په دغه برخه کې د ولسونو هم لوی مسئولیت جوړېږي، چې د عوایدو په راټولو کې زموږ سره همکاري وکړي، ځکه دا ټولې ستاسو پیسې دي او بېرته تاسو ته په مصرف رسېږي، له تاسو ولسونو هم هیله لرو، چې ددغې پروژې په ښارنه او ساتنه کې د ناحیې سره همکاري وکړئ. په ورته مهال د تخنیکي او سکتوري چارو رئیس وویل، چې په دغه سړک باندي ۲۱،۶ میلونه افغانۍ لګښت راځي، چې ټول د جلال اباد ښاروالۍ له داخلي عوایدو ورکول کېږي. نوموړي د خپلو خبرو په دوام وویل، چې دغه پروژه کې دوه سړکونه قیر کول شامل دي، یو د فواید عامې ریاست مخې سړک دی، بل میا اسلم پلازې شاته یوه کوڅه ده چې اطلاعاتو او فرهنګ ریاست ته وتلې.

د یاد سړکونو جوړېدو سره به سلګونه د سیمې اوسېدونکو ته د کار کولو زمینه برابره شې او چارې به یې د ۶ میاشتو په موده کې بشپړې شي.

## افزایش سی درصدی تولید پایه‌های ...

سخن گفت و افزود که ۷۵ الی ۸۰ درصد نیازمندی پایه‌های برق ریاست عمومی برشنای کشور، از همین فابریکه تامین می گردد.

مسوول عملیاتی فابریکه‌ی پایه سازی برق، نقش این فاریکه را در آوردن روشنایی، ترقی و پیشرفت اقتصاد کشور مهم عنوان کرد و از امارت اسلامی خواست که به خاطر تجهیز و تمویل مواد خام، با آنان همکاری نمایند. بیش از چهل سال می‌شود که فابریکه‌ی پایه سازی در بغلان فعالیت دارد و همین اکنون نود وهشت کارگر در آن مشغول کارمی‌باشند.

## نشستی به منظور بازنگری و انکشاف ...

با آموزش زبان های خارجی، به نفع کشور کار کنیم.وی بر ایجاد یک نصاب واحد در تمام نهادهای تحصیلی دولتی و خصوصی کشور تاکید کرد و افزود که وزارت تحصیلات عالی، متعهد به آموزش‌های دینی وعصری است. سرپرست وزارت تحصیلات عالی، همچنان بر سخنان بعضی از اشخاص که از کلمات و اصطلاحات خارجی کار می گیرند، اشاره کرد و از اشتراک کنند گان خواست که زبان‌های ملی را از اسارت زبان‌های خارجی، محفوظ بدارند.دکتورلطف الله خیر خواه معین علمی وزارت تحصیلات عالی، در صحبت هایش گفت: علاوه بر این که زبان وسیلهٔ افهام و تفهیم است، انتقال دهندهٔ فرهنگ، ثقافت و فکر نیز است و تاکید کرد که جنگ فکری باید به وسیلهٔ فکر انجام شود.وی همچنان اضافه کرد که ما باید نصاب تحصیلی کشور را با در نظر داشت ارزش‌های دینی و ملی، فرهنگ، ثقافت و پیشرفت‌های عصری آماده کنیم. مفتی عبدالرووف فراهی رییس نصاب تحصیلی وزارت تحصیلات عالی، در رابطه به اهداف این نشست معلومات ارایه نموده، گفت که در این نشست، استادان نهادهای تحصیلی دولتی و خصوصی، متخصصان اکادمی علوم و نهادهای ذیربط دعوت شده اند که در جریان پنج روز کاری' بالای نصاب سیزده دیپارتمنت پوهنځی زبان و ادبیات نهادهای تحصیلی کشور کار خواهند کرد.

## لوګر کې یوه لرغوني سیمه کشف ...

صمیم زیاته کړه، چې له دغې سیمې څخه لاسته راغلي معلومات دا ښیي، چې دغه سیمه لرغونې سیمه ده او باید د دغې سیمې اوسېدونکي یې د ساتنې په برخه کې زموږ له ادارې سره همکاري وکړي. د یادونې وړ ده، چې لوګر د نورو تاریخي ځایو تر څنګ خپله جغرافیه کې د محمد آغې ولسوالۍ اړوند د عینکو د مسو کان د لرغوني سیمې سربېره؛ بره کي برک ولسوالۍ کې د سجاوند او په خروار ولسوالۍ کې د کافرکوټ په نوم لرغونې سیمې لري، چې یادې سیمې نه یوازې د لوګر بلکې د هېواد او سیمې په کچه له مهمو لرغونو سیمه بلل کېږي، چې زرګونه کاله تاریخي مخینه لري.

## ۱۵ میلیون دالر به منظور تقویت ارزش پول ...

در خبرنامه هم‌چنان گفته شده است که تسویه یی قسمی معاملات مجاز نیست و برندگان لیلام مکلف‌اند که پول ذمت خویش را یک‌مرتبه به طور نقدی در مدت زمان معینه تحویل د افغانستان بانک کنند.

هفتهٔ گذشته نیز د افغانستان بانک، برای تقویت بیشتر ارزش پول افغانی، شانزده میلیون دالر را به طور لیلام به فروش رسانده بود.

## ایران کې د افغان کډوالو د استوګنې ...

کورنیو چارو وزارت د بهرنیو کډوالو او اتباعو مدیر سردار صادق رضادوست ویلي، تېره اونۍ د کورنیو چارو وزیر په غړیتوب یو کمېسیون جوړ شوی او پرېکړه یې کړې چې ټولو افغان کډوالو ته دې د کار کولو اجازه او د اوسېدنې ځانګړي کارتونه ورکړل شي. د رضادوست په خبره چې د دې پرېکړې د عملي کولو لپاره لومړني ګامونه اخیستل شوي او ډېر ژر به یې عملي پړاوونه هم پیل شي. د یادونې وړ ده چې دا مهال په ایران شاوخوا پنځه میلیونه افغان کډوال مېشت دي چې لویه برخه یې قانوني اسناد نه لري.

## آغاز روند توزیع قباله‌های الکترونیکی...

از سوی دیگر، شیخ الحدیث مولانا نوراحمد اسلام جار والی هرات گفت که بحث زمین و زمین داری یکی از موضوعات بسیار مهم است که خوشبختانه امروز این پروگرام، درهرات افتتاح شد و بسیاری مشکلات مردم از ناحیه غصب و نداشتن قباله و غیره مرفوع خواهد شد.

مولوی صادقی رئیس قباله جات وزارت زراعت، آبیاری و مالداری می‌گوید که در این قباله‌ها زمینهٔ جعل و تذویر وجود نداشته و ازغصب زمین‌های مردم نیز جلوگیری صورت می‌گیرد. شایان ذکراست که قباله‌های مذکور دارای نمبر صکوک و بار کود بوده و مشخصات نیز توسط کمپیوتر به ورق مخصوص چاپ می شود.

## افغانستان د برېښنا په برخه کې د هېڅ هېواد ...

د جلبولو په هکله هم هڅې شوې، چې ان شاالله په راتلونکي کې به ښې پایلې ولري. د یادولو وړ ده، چې د اوبو او انرژي وزارت سرپرست وزیر له یاد سفر څخه د راستنېدو په وخت کې د کابل په نړیوال هوایي ډګر کې د خپل سفر په هکله خبریالانو ته په بشپړ ډول معلومات ورکړل او د دوی پوښتنو ته یې اړین ځوابونه ورکړل.

## ننګرهار کې څه باندې ۹ زره جریبه ...

په خبرپاڼه کې دا هم راغلي دي، چې د غصب شویو ځمکو د بېرته راګرځولو تخنیکي پلاوي د بادغیس د قلعه نوښار د سیند شاوخوا ۳۰ جریبه ځمکه، چې د قلعه نو ښاروالۍ تر دعوې لاندې ده، څېړلي او له غاصبینو یې د استوګنې د تاسیساتو د جوړولو اسناد غوښتي دي.

## د تاریخي آبداتو د ساتنې په موخه بلخ ...

تر منځ یو شمېر تاریخي آبدات د کانال په مسیر کې واقع دي چې له کبله یې د کانال د مسیر د بدلولو پرېکړه شوې ده. عظیم ویلي چې یاد تاریخي آبدات د هېواد د هویت او کلتور برخه ده، له همدې کبله یې دوی ساتنې او خوندیتابه ته لومړیتوب ورکوي. د ملي پراختیا شرکت چارواکي وایي چې د کانال د مسیر بدلول به یوازې درې میلیونه افغانۍ اضافي لګښت ولري. د یادونې وړ ده چې د قوش تېپې کانال د لومړي فاز د رغونې چارې په ۱۲۰ نقطو کې روانې دي چې په یوه وخت پکې ۵۹۰۰ تنه په کار بوخت دي. چارواکي وایي چې د کانال د لومړۍ برخې کارونه به تر شپږو راتلونکو میاشتو پورې بشپړ شي.

## له اسلامي امارت سره د مثبت تعامل ...

ډاکټر حبیب خالد غفاري سره وکتل.

په دې کتنه کې لومړی ډاکټر غفاري له هېواد څخه بهر د افغان نړیوال خوځښت په فعالیتونو او موخو خبرې وکړې او ویې ویل چې دوی له هېواد څخه بهر د نورو افغان متخصصینو په مرسته او همکارۍ د افغانانو د بشري وضعیت د ښه والي او روغتیایي ستونزو د حل لپاره هڅې کوي.

نوموړي وویل، په بهر کې مېشتو ګڼو افغانانو له امریکا غوښتي چې د افغانانو بانکي شتمني ازاده، له افغانانو سره بشري مرستې ډېرې او له اسلامي امارت سره د مثبت تعامل لپاره هڅې وکړي.

نوموړي زیاته کړه، چې غواړي د خپلو ملګرو په مرسته د افغانانو د روغتیایي ستونزو کمولو لپاره په پلازمېنه کابل کې ستر او معیاري روغتون جوړ کړي.

په ورته وخت کې د ریاست الوزراء سیاسي مرستیال مولوي عبدالکبیر نوموړي ته د ښه راغلاست او مننې ترڅنګ وویل: د افغانانو د لاسنیوي، د ستونزو راکمولو او نړیوالو ته د افغانانو د غږ رسولو کې بهر مېشتي افغانان او په ځانګړي ډول متخصصین تاریخي مسوولیت لري.

د ریاست الوزرا سیاسي مرستیال د خپلو خبرو پای کې زیاته کړه، اسلامي امارت ټولو بهر مېشتو متخصصینو ته خپل هیواد ته د راتلو بلنه ورکوي، ترڅو د خپلو هیوادوالو خدمت او لاسنیوی وکړي.

## امارت اسلامی در امر مبارزه با هراس‌افکنی ...

است و واضح ساخته است که روسیه به طور مشخص نگران تلاش‌های جاری امریکا، برای به دست آوردن توانایی کنترل و اعمال نفوذ بر وضعیت کنونی افغانستان و از جمله ایجاد تاسیسات نظامی در کشورهای همسایه است. او برخلاف اظهارات دیگران، درمورد افغانستان حکومت «کارآمد» امارت اسلامی را ستود که در مبارزه با داعش و دیگر گروه‌های تروریستی «جدی» است. آقای کابلوف همچنین گفته: روند به رسمیت شناخته شدن امارت اسلامی، با اشتراک نمایندگان این حکومت، در نشست‌های منطقه یی از جمله فارمت مسکو در ماه نوامبر، آغاز شده‌است، مگر دیگران تلاش دارند این روند را مختل کنند در همین حال، نمایندهٔ ویژهٔ پوتین برای افغانستان، نارضایتی خود را از عملکرد نصیراحمد فایق، نمایندهٔ دایمی افغانستان در سازمان ملل که از سوی نظام سابق گماشته شده است، ابراز داشت و از او به علت رای دادن به «قطعنامه‌های ضد روسی» در سازمان ملل انتقاد کرد. این در حالی است که امارت اسلامی در قضایای بین المللی، به خصوص تنش جاری میان اوکراین و روسیه، موقف بی طرف دارد.

## نسبت به هر کس دیگری، تجربهٔ خوبتری ...

را، درباره حضور تحریک طالبان پاکستانی در افغانستان و به حمله‌ی احتمالی به آنان در داخل افغانستان، تحریک آمیز و بی اساس می داند. در اعلامیه آمده است، با آن که مدارک و شواهدی کافی وجود دارد، که مراکز تحریک طالبان پاکستانی در داخل پاکستان هست، همچو ادعاها از طرف مقامات پاکستانی روابط حسنه بین دو کشور همسایه و برادر را خدشه دار می سازد.

در اعلامیه گفته شده است، درخواست ما این است که هر گونه نگرانی و مشکلات باید از راه تفاهم حل شود، زیرا افغانستان بی صاحب نیست، ما مثل همیشه برای دفاع از تمامیت ارضی و استقلال کشور آماده دفاع هستیم و در دفاع از کشور عزیز خود، تجربهٔ خوبتری نسبت به هر کس دیگری داریم.

## د شرکتونو د بررسۍ له درکه یو میلیارد او ...

د ۱۴۰۱ مالي کال په بهیر کې، یو میلیارده او ۱۳۶ میلیونه افغانۍ د شرکتونو د بعدي بررسۍ له درکه ترلاسه کړې.

د سرچینې د معلوماتو له مخې؛ په همدې موده کې، د یو شمېر حکمي او حقیقي مالیه ورکوونکو اشخاصو موندل چې له قانوني جواز او مالیاتي پېژندنې (TIN) پرته فعالیت کوي او په مالیاتي اداراو کې ثبت نه دي؛ د نویو مالیاتي سرچینو موندل او دغه راز له ټولو دولتي ادارو او خصوصي شانګو څخه د قراردادونو ترلاسه کول او په ټایس سیسټم کې د هغو ثبتول، د تنفیذ او مالیاتي اطاعت پذیرۍ ریاست مهم فعالیتونه ویل شوي دي.

په خبرپاڼه کې همدا رنګه، د شرکتونو د بعدي بررسیو په لړ کې د یو میلیارده او ۱۳۶ میلیونه افغانیو او د نهه زره ۶۸۲ قراردادونو ترلاسه کول؛ د ۱۰۰۰ بنسټونو ارزول او د څه د پاسه ۲۵۴ میلیونه ۲۲۴ زره افغانیو پولي تضمین، مالیاتي تصفیې او د مالیاتو منلو وروسته د (۱۱۹۴) بنسټونو د محدودیت لرې کول د یاد ریاست مهمې لاسته راوړنې بلل شوې دي.

د یادونې وړ ده چې د تنفیذ او مالیاتي اطاعت پذیرۍ ریاست، د عوایدو عمومي ریاست تر چتر لاندې د ټولو اړوند مالیاتي قوانینو په پام کې نیولو سره، د کره او ریښتیني، حقیقي ټاکل شوې مالیې او د مالیاتي ادارو د اجراآتو له څرنګوالي څاري.

## د ۲۰۲۲ میلادي کال لوړې ...

افغانستان د نوي نظام تر سیوري لاندې له نړۍ سره پر همکارۍ، همپالنې او تعامل باور لري او نړۍ هم باید په افغانستان کې له واقعیتونو سره، چې اسلامي امارت یې یوه برخه ده، مثبت او فعال چلند ولري. افغانستان په سیمه ییزو او نړیوالو همکاریو کې مطرح هېواد دی دغه هېواد له نړیوالې ټولنې سره د همکارۍ غوښتنه کوي هغه همکاري؛ چې تعریف یې متقابل درناوی او یو د بل په کورنیو چارو کې نه لاسوهنه ده. اسلامي امارت به په راتلونکي کې هم په همدې روحیې سره له نړیوالې ټولنې سره خبرې وکړي او په خپل نړیوال لاربښود کې به امتیاز ورنه کړي او نه به امتیاز واخلي بلکې؛ د ملي ګټو پر بنسټ به د خپلې همکارۍ او تعامل لارې ته دوام ورکړي.

## مشوره د نظام د بقا لپاره یو مهم ...

هم په دې خبره ډېر ښه پوهېږي او له همدې امله یې د ژغورنې لپاره وخت پر وخت مشورې وړاندې کوي او هڅه کوي چې د سقوط او زوال مخه یې ونیسي. دلته د یادونې وړ یوه بله خبره داده چې کله کله له ځینو مشرانو دا هم اورېدل کېږي چې وایي مشوره کول ضروري دي خو د شورا سپارښتنې پر مشرانو الزامي نه دي. ښایي دلته هم ځینو بیا د خیرالقرون زماني ته پرواز کړی وي، هلته چې پیغمبر علیه السلام ته وحی راتله، نور راشده خلفاء هم له الهام او کرامته خالي نه وو او یو عام صحابي هم امیرالمؤمنین عمر بن خطاب غوندې شخصیت ته مخامخ په زغرده ویلی شوی چې که له سمې لارې واوړې پر همدې توره به دې سموو! لنډه دا چې اوس باید هیڅوک د هماغې پخوانۍ زماني خیال و نه کړي ځکه اوس که شورا نه وي، مشرانوته د صلاحیت حدود نه وي ټاکل شوي او ونه پوښتل شي، پرته له شکه چې نظام ډېر ژر د یو مطلق استبداد خواته درومي او د سقوط ګړنګ ته لوړې. لکه چې موږ په همدې خپل عصر کې د اسلامی نړۍ د بېلابېلو حکومتونو، ت نظیمونو او تحریکونو همدغسې برخلیک په خپلو سترګو ولید او خپله افغانانو کې خو دا تجربه څو څو واره تکرار شوې ده. په کار ده چې له همداسې تاریخي واقعاتو پندو عبرت واخیستل شي او له هغو کړنو په کلکه ډډه وشي کومې چې یقیناً د اختلاف، زوال او هلاکت لامل ګرځي. راځئ د نظام ژغورنې لپاره یو بل ته غوږ ونیسو، اهلو اشخاصو سره مشوره وکړو او د زوال اسبابو نږدې کېدو په څوک پرې نه ږدو.

## فراغت ۲۴ تن از مرکز آموزشی ...

، برای بیست و چهارتن دستار فضیلت بسته شد.

همچنان مولوی نورالله، مدیر امور عقیدتی قول اردوی ۲۰۳ منصوری گفت که در تمامی لواهای قول اردو، با هدایت وزارت دفاع ملی مدارس دینی ایجاد شده است، تا به مجاهدین آموزش‌های دینی داده شود.

## چینایي شرکت په افغانستان کې د اوبو ...

کې پانګونې ته لېوالتیا څرګنده کړې ده. د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزیر یادو پانګوالو ته بلنه ورکړې چې افغانستان ته راشي، د اوبو بندونو د جوړولو او انرژي د تولید په برخه کې د پانګونې په هکله د اوبو او انرژي وزارت له اداري او تخنیکي مسؤولینو سره له نږدې خبرې وکړي: «موږ تیار یو چې د پانګونې لپاره زمینه درته مساعده کړو». په ورته مهال، یادو پانګوالو هم ومنله چې افغانستان ته راشي او د اوبو بندونو د جوړولو او انرژي د تولید په برخه کې به پانګونه کوي.

## د افغانستان د وچو مېوو په صادراتو ...

ډېره بېلابېلو هېوادونو ته جلغوزي، پسته، ممیز او شکرپاره صادره شوې ده.د صنعت او سوداګرۍ وزارت ویاند آخندزاده عبدالسلام جواد وایي: ((موږ اروپا او همدارنګه کاناډا او استرالیا ته څو چوپې صادرات لرل، چې د تېر کال پرتله ډېر زیاتوالي یې لرلی دی.))بل خوا، د سوداګرۍ او پانګونې خونه وایي، چې د افغانستان توکي د سیمې پر هېوادونو سربېره، اروپا او امریکا ته هم صادرېږي.د سوداګرۍ او پانګونې خونې سرپرست محمد یونس مومند وایي : (( موږ غواړو چې ډېرې آسانتیاوې هم رامنځته شي او څه ډول وکړای شو، چې په ډېره کمه بیه د هوا له لارې او د نورو غوراویو له لارې وچه مېوه نړۍ ته ورسوو.)) اخوا، یو شمېر سوداګر له اسلامي امارت په ځانګړې توګه له صنعت او سوداګرۍ وزارته غواړي، چې هوایي دهلیزونه فعال کړي. سوداګر زلمي عظیمي وایي : (( له بده مرغه نن زموږ صادرات له ټولو هېوادونو سره د نه اړیکو او بانکي راکړې ورکړې د ستونزو او ترانزیټي ستونزو او حتی د هوایي کارګو ستونزو له امله زموږ د محصولاتو غوښتونکي په ځانګړې توګه د جلغوزې او وچې مېوې غوښتونکي له زیاتو ستونزو سره مخ دي.))تر دې وړاندې د صنعت او سوداګرۍ وزارت له لوري د ورکړل شویو شمېرو له مخې، په تېرو اتو میاشتو کې نورو هېوادونو په تېره بیا چین ته اته زره ټنه جلغوزي صادر شوي دي.

## هشدار صندوق بین المللی پول از رکود ...

رشد چین در سال ۲۰۲۲ احتمالاً در حد رشد جهانی یا کمتر از آن خواهد بود».

وی که اواخر ماه گذشته برای گفت و گو درباره صندوق بین‌المللی پول به چین سفر کرد، اظهار داشت که علاوه بر این، اوج گیری کرونا در ماه‌های آینده احتمالاً در سال جاری، به اقتصاد این کشور ضربه خواهد زد و رشد منطقه یی و جهانی را، به تعویق خواهد انداخت.

رئیس صندوق بین‌المللی پول گفت: « چند ماه آینده برای چین، سخت خواهد بود و رشد منفی این کشور بر منطقه و رشد جهانی تاثیر منفی خواهد گذاشت».

## کیف و شرق اوکراین آماج حملات هوایی ...

ضمن آرزوی پیروزی و ابراز امیدواری کرد که وضعیت این کشور در سال ۲۰۲۳ به «حالت عادی» بازگردد.

همزمان ولادیمیر پوتین رئیس جمهوری روسیه در سخنرانی خود در تلویزیون روسیه گفت روسیه برای استقلال خودش مبارزه می‌کند.

## له روسیې څخه د ګازو واردولو سره ...

د کار زمینه برابره شي.په همدې حال د اقتصادي چارو کارپوهان وایي، په اوسني وضعیت کې له روسیې څخه د ګازو او تېلو واردول به د هېواد په بازارونو کې د نفتي توکو بیې راټیټې کړي.روسیه په داسې حال کې د افغانستان بازارونو ته د طبیعي ګازو د استولو خبر ورکوي، چې د هېواد د صنعت او سوداګرۍ وزارت له روسیې، ایران، ازبکستان او ترکمنستان هېوادونو سره په هېواد کې د تېلو د بیې د راټیټولو په موخه تړونونه لاسلیک کړي وو.

## بازداشت ده‌ها تن در یک ماه ...

این در حالیست که در این اواخر وزارت داخله تلاش‌هایش را در امر مبارزه با مواد مخدر و جنایتکاران بیشتر نموده است و میزان جرایم کاهش چشمگیری پیدا نموده است.

## پکتیکا کې د مجاهدینو له نوم ...

دغه کسانو به د مرکز ښرنې – زرمت ولسوالۍ پر لویه لاره د مجاهدینو په نوم له خلکو پر زور موټرسایلکونو اخیستل.

نیول شویو کسانو په خپل جرم اعتراف کړی دی.

## احتراق ۱۸ تُن مواد خوراکی بی کیفیت ...

که تاریخ گذشته و یا استندردهای ساخت و تولید را نداشتند.

داکتر کبیر افزود: ریاست صحت عامه متعهد به نظارت تمام مواد غذایی است و اگر تخطی در بخش فروش مواد غذایی و یا داروی تاریخ تیر شده صورت بگیرد، با متخلفان برخورد قانونی صورت می گیرد. معاون صحت عامه هرات، از شهروندان و فروشندگان می خواهد، تا در جمع آوری مواد تاریخ تیر شده همکاری کنند.

# Shariat

Twice printed in week

**Shariat**
**Published by**
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: Shariatdaily@gmail.com
WWW: dailies.gov.af / shariat :ویب سایت

**شریعت**
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رييس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰٦٦٦
مسؤول مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸٦۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: Shariatdaily@gmail.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ – د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نوي ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷٦۷۸۸٤٤۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

January 03 December 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 116


## ۲۶ ټانکره بې کیفیته تېل بېرته ایران ته مسترد شول



شریعت: د ستندرډ ملي ادارې له لوري په نیمروز ولایت کې ۲۶ ټانکره بې کیفیته نفتي توکي (ډیزل) چې د دې ادارې له ستندرډونو سره یې مطابقت نه درلود، بېرته ایران هېواد ته مسترد شول.


یادې ادارې د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې په نیمروز کې د ستندرډ ملي ادارې د کیفیت د لابراتواري ټیسټ وروسته ۲۶ ټانکره تیل، چې د دې ادارې د ستندرډونو خلاف وو او پایله یې منفي وه، له مستردۍ وروسته ایران هېواد ته وګرځول شول.

خبرپاڼه زیاتوي، چې په دې وروستیو کې د ستندرډ ملي ادارې په خورا جدیت د بې کیفیته تیلو د واردولو د مخنیوي لپاره عملي ګامونه پورته کړي او له ټولو سوداګرو غواړي، چې هېواد ته با کیفیته توکي وارد کړي، کنه د دغه راز ورته چلند سره به مخ شي.

## آغاز روند توزیع قباله‌های الکترونیکی در هرات

شریعت: روند توزیع قباله‌های الکترونیکی در هرات دیروز با حضورداشت رئیس عمومی استملاک و اسکان مجدد معینیت امور زمین داری و رئیس قباله جات وزارت زراعت، والی هرات و روسای دوایر دولتی آغاز گردید.

مولوی عبدالعلی عمری رئیس عمومی استملاک و اسکان مجدد معینیت امور زمین داری وزارت زراعت، آبیاری و مالداری گفت که هرات سومین ولایت بعد از کابل و مزار شریف است که این روند آغاز می‌شود و منبعد مشکلات زمین داران به گونهٔ اساسی با گرفتن قباله الکترونیکی، رفع خواهد شد... ص۷



## رویداد های خارجی

### کیف و شرق اوکراین آماج حملات هوایی گستردهٔ روسیه

همزمان با تازه‌ترین دور حملات پهپادی و موشکی روسیه به شرق و پایتخت اوکراین، یکشنبه شب در کی‌یف آژیرهای حمله هوایی به صدا درآمد.

اولکسی کولبا، فرماندار منطقه کی‌یف گفت حملاتی که شب گذشته صورت گرفت، زیرساخت‌های حیاتی را هدف قرار داده است.

شهرداری کی‌یف گفت در پایتخت یک مرد بر اثر آوار هواپیمای بدون سرنشین منهدم شده روسیه مجروح شد.

همزمان اوکراین با سامانه موشکی دوربرد «هیمارس» (HIMARS) که آمریکا به این کشور ارسال کرده است، به حملات پاسخ می‌دهد.

اخیرا ولودیمیر زلنسکی، رئیس جمهور اوکراین... ص۷



### استرالیا کې د دوو چورلکو د ټکر له امله څلور تنه وژل شوي دي

د استرالیا په یوې سیاحتي سیمه کې د دوو چورلکو د ټکر له امله څلور تنه وژل شوي او درې نور ټپیان شوي دي. رویټرز خبري اژانس ویلي، چې د استرالیا په ګولډ کاسټ کې د سیاحت یوې سیمې ته نږدې په هوا کې د دوو چورلکو د ټکر له امله څلور کسان وژل شوي او درې نور ټپیان دي. سیمه کې پولیس چارواکو هم رسنیو ته یاده مرګ‌ژوبله تایید کړې ده. تراوسه د یادو چورلکو د ټکر لامل نه دی معلوم.

### هشدار صندوق بین المللی پول از رکود اقتصاد جهان در سال جدید میلادی

رئیس صندوق بین‌المللی پول هشدار داده است که در سال ۲۰۲۳ میلادی یک سوم از اقتصاد جهانی وارد رکود خواهد شد.

رئیس صندوق بین‌المللی پول اعلام کرده است که سال جدید، برای بخش بزرگی از اقتصاد جهانی، سال سختی خواهد بود، زیرا گرداننده گان اصلی رشد اقتصاد جهانی آمریکا، اروپا و چین همگی با وضعیت نامطلوبی مواجه خواهند شد.

الگماینر، کریستالینا جورجیوا، مدیرعامل صندوق بین‌المللی پول به شبکه تلویزیونی سی‌بی‌اس گفته است: سال جدید، «سخت‌تر از سالی خواهد بود که پشت سر می‌گذاریم».

وی علت این امر را افول سه اقتصاد بزرگ جهان یاد کرد و افزود، اقتصاد ایالات متحده، اتحادیه اروپا و چین همگی به طور هم زمان در حال افول هستند.

جورجیوا گفت: «برای اولین بار در ۴۰ سال گذشته... ص۷



### مکسیکو کې پر یوه زندان د برید له امله ۱۴ کسان وژل شوي دي

په مکسیکو کې یوې وسله والې ډلې د دغه هېواد په شمال کې پر یوه زندان برید کړی او ۱۴ کسان یې وژلي دي. د مکسیکو د چې واوا ایالت د څارنوالۍ دفتر ویلي، لس امنیتي پوځیان او څلور بندیان هغه وخت ووژل شول، چې برید کوونکي په پوځي موټرو کې د دغه ایالت یوه زندان ته له رسېدو سره سم ډزې پیل کړې. په دغه برید کې ۱۳ تنه نور ټپیان شوي هم دي. چارواکي وايي برید کوونکو هڅه کوله بندیان خوشې کړي. د برید پر مهال ۲۴ تنه بندیان په تېښته بریالي شوي دي.


**توجه !**
ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی‌حرمتی بگذارید!


## بازداشت ۶ تن به اتهام سرقت در کابل

شریعت: پولیس کابل، شش تن را در پیوند به سرقت از مربوطات حوزه دوازدهم شهر کابل بازداشت کرد. قوماندانی امنیه کابل روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی گفت که پولیس حوزه دوازدهم، شش تن را به اتهام سرقت بازداشت نموده است. این اشخاص در مناطق مختلف شهر کابل، با استفاده از سلاح اموال و وسایل شهروندان را می ربودند و شماری از شهروندان کابل را هین سرقت مجروح نموده بودند.

از نزد افراد بازداشت شده، سه عراده ریکشا سرقت شده، نیز بدست آمده است.

## د افغانستان د وچو مېوو په صادراتو کې زیاتوالی راغلی

د صنعت او سوداګرۍ وزارت وایي، چې د روان لمریز کال له پیل راهیسې د ۲۷۳ میلیون ډالرو په ارزښت وچه مېوه له هېواده بهر ته صادر شوې ده. د دغه وزارت د معلوماتو له مخې: تر... ۷مخ



## افزایش سی درصدی تولید پایه‌های برق در بغلان

شریعت: تولیدات فابریکه‌ی پایه سازی بغلان در مقایسه به سال گذشته، سی درصد افزایش یافته است.

مولوی نقیب الله نظری، مسؤول فابریکه‌ی پایه سازی در بغلان گفت: در نه ماه سال جاری، سه هزار و چهارصدو نود و چهار پایه برق به سایزهای مختلف تولید شده‌است؛ تولیداتی که دربازارهای افغانستان خریداران زیادی دارد».

این فابریکه، روزانه بیست و شش پایه ۱۰، ۱۲ و ۱۵ متری برق تولید می‌کند که در سال‌های قبل، حد اکثر تولید روزانه این فابریکه ۲۰ پایه بوده است.

محمد کبیر مسوول تخنیکی و عملیاتی فابریکه‌ی پایه سازی در بغلان، از کیفیت و محکم بودن پایه‌های برق... ص۷

## احتراق ۱۸ تُن مواد خوراکی بی کیفیت و تاریخ گذشته در هرات

شریعت: هژده تُن مواد خوراکی تاریخ گذشته و بی کیفیت از سوی ریاست صحت عامه ولایت هرات حریق گردید.

مسؤولان ریاست صحت عامه هرات می گویند که این مواد، طی یک سال از شرکت‌ها و برخی دکان‌های شهر جمع‌آوری گردیده بود که دیروز در ساحهٔ میرداوود ولسوالی گذره حریق شد.

داکتر محمد آصف کبیر معاون ریاست صحت عامه هرات گفت که این مقدار مواد خوراکی از آغاز سال توسط کارمندان صحی از فروشگاه‌ها جمع آوری شده بود.

داکتر کبیر گفت: مواد جمع آوری شده شامل پنجاه نوع مواد غذایی می گردید... ص۷

## چینایي شرکت په افغانستان کې د اوبو بندونو جوړولو او انرژۍ تولید په برخه کې پانګونه کوي

د راپورونو له مخې، د چین CRBC شرکت غواړي په افغانستان کې د اوبو بندونو جوړولو او انرژۍ تولید په برخه کې پانګونه وکړي. د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست وزیر ښاغلي ملا عبداللطیف منصور په تاشکند کې د چین هېواد د CRBC شرکت له رئیس او یو شمېر تخنیکي مسؤلینو سره کتلي او دیاد شرکت مسؤلینو په افغانستان کې د اوبو بندونو د جوړولو او د انرژي د تولید په برخه ... ۷مخ



## فراغت ۲۴ تن از مرکز آموزشی قول اردوی ۲۰۳ منصوری پکتیا

شریعت: بیست و چهار تن پس از آموزش تعلیمات دینی از مدرسه فتح العلوم قول اردوی ۲۰۳ منصوری پکتیا، فارغ گردیدند.

مولوی محمد آصف ذاکر، قوماندان لوای دوم سرحدی گفت که در هر لوا و کندک زمینهٔ آموزش دینی برای مجاهدین فراهم شده است و پس از آموزش دینی... ص۷

## بغلان کې له نږدې ۵۰ زره بې وزلو کورنیو سره مرسته کېږي

د بغلان د اقتصاد ریاست مسوولین وايي، چې په دغه ولایت کې د خوړو نړیوال پروګرام د بې وزلو کورنیو د اقتصادي ستونزو د حل په موخه بغلان کې د ۶ میاشتو په موده کې له څه د پاځه ۴۹ زره کورنیو سره د خوراکي توکو مرسته کوي، چې د دې مرستو نیمه برخه به د کار په بدل کې په کورنیو ووېشل شي.

د بغلان د اقتصاد رئیس عبدالمتین اخندزاده وویل، چې د خوړو نړیوال سازمان په مرسته د دغه ولایت د اوسېدونکو د اقتصادي ستونزو د حل په موخه پر ۴۹ زره ۸۸۶ کورنیو مرستې وېشل کېږي.

اخندزاده زیاته کړه چې ددغو مرستو ۵۰ سلنه یې اړمنو کورنیو ته په وړیا ډول او ۵۰ سلنه نور یې د کار په بدل کې وېشل کېږي.

## پکتیکا کې د مجاهدینو له نوم څخه د ناوړه ګټې اخیستنې په تور ۲ تنه ونیول شول



د پکتیکا د امنیې قوماندانۍ چارواکي وايي، چې په دغه ولایت کې یې ۲ تنه د مجاهدینو له نوم څخه یې د ناوړه ګټې اخیستنې په تور له یو میل وسلې سره نیولي دي.

د پکتیکا امنیتي مسوولینو باختر آژانس ته وویل، چې... ۷مخ

## تخار، پکتیکا او کندز کې اړمنو کورنیو او بزګرانو سره مرسته وشوه

په تخار او پکتیکا کې له ۲ زره ۲۰۰ اړمنو کورنیو سره د خوراکي توکو او کندز کې له ۲ زره بزګرانو سره د کنجارې مرسته وشوه.

د تخار په چاه آب ولسوالۍ کې د خوړو نړیوال سازمان په مالي ملاتړ پر ۲ زره بې وزلو کورنیو خوراکي توکي ووېشل شول، چې په کې هرې کورنۍ ته دوې بوجۍ اوړه او ۵ لېټره غوړي ورکړل شول. د یو بل خبر له مخې؛ په پکتیکا کې پر ۲۰۰ بې‌وزله کورنیو خوراکي توکي ووېشل شول، چې په کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو غنم ورکړل شول.

ورته مهال د کندز په علي آباد ولسوالۍ کې د FAO موسسې په مالي ملاتړ پر ۲ زره بزګرانو مرستې ووېشل شوې، چې په کې هر بزګر ته ۱۵۰ کیلو کنجاره او ۵ کیلو د شفتلې تخم ورکړل شو.



## لغمان: بېلابېلو ترافیکي پېښو کې ۲۴ تنو ته مرګ ژوبله اوښتې

د لغمان د ترافیکو مسوولین وايي، چې په دغه ولایت کې په ٤ ترافیکي پېښو کې ۳ تنه مړه شوي او ۲۱ نور ټپیان شوي دي. د دغه ولایت د ترافیکو مدیر مولوي حبیب الله مبارز باختر آژانس ته وویل، چې د یاد ولایت په بېلابېلو سیمو کې ٤ ترافیکي پېښې رامنځته شوې، چې په کې ۳ کسان مړه شوي او ۲۱ کسان نور ټپیان شوي دي.

نوموړی زیاتوي، چې د دغو پېښو ټپیان پر وخت د درملنې لپاره روغتونونو ته لېږدول شوي دي.



## بازداشت ده‌ها تن در یک ماه گذشته در ننگرهار

شریعت: وزارت امور داخله، از بازداشت یک صد وچهل و پنج تن در یک ماه گذشته در پیوند به جرایم مختلف جنایی در ننگرهار خبر می‌دهد. این وزارت دیروز با نشر خبرنامه‌یی گفت که طی یک ماه گذشته ۱۴۵ تن در پیوند به جرایم مختلف در ننگرهار بازداشت گردیده است... ص۷


شریعت جریده داسلامي مبارزې یو رسا غږ او رښتینې هینداره ده، نو له ټولو مخلصو او با احساسه دعوتګرانو او دردمنو لیکوالانو هیله من یو چې موږ سره خپلو قلمي همکاریو ته دوام ورکړي.